د افغانستان تلویزیون
شهتوا از جانباز
۱۳۸۱ ل

PROPERTY OF
ACKU
10187

د افغانستان تلویزیون

شهنواز جانباز

۱۳۸۱هـ ل

PROPERTY OF
ARIC
Established
1986

کتاب پېژندنه:

نوم	:	د افغانستان تلوېزیون
لیکوال	:	شهنواز جانباز
خپرونکی	:	پخپله لیکوال
د خپرېدو نېټه	:	۱۳۸۱هـ، ل
شمېر	:	۱۰۰۰ ټوکه



PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

فهرست

- تلوېزيون ۱
- په افغانستان کې د تلوېزيوني پروژې پيل ۲
- په افغانستان کې د تلوېزيوني خپرونو پيل ۵
- د غويی تر کودتا وروسته تلوېزيوني خپرونې ۶
- د ۱۳۵۸ ل کال د جدي له شپږمې څخه ۱۰
- د تلوېزيون د خپرونې رياست ۲۰
- د تلوېزيون د سياسي او ټولنيزونو خپرونو لوی مديريت ۲۱
- د تلوېزيون د اطلاعاتو لوی مديريت ۲۷
- د سينمايي خپرونو لوی مديريت ۲۹
- د تلوېزيون د مستندو فلمونو مديريت ۳۱
- د نړيوالو خپرونو لوی مديريت ۳۲
- د ارت او ګرافيک عمومي مديريت ۳۳
- د انسجام او ارزيابۍ لوی مديريت ۳۴
- د تلوېزيون د موسيقۍ مديريت ۳۴
- د نطاقانو عمومي مديريت ۳۶
- د تلويزيون د اعلاناتو اداره ۳۶
- د ارشيف مديريت ۳۷
- د هنر او ادبياتو لوی مديريت ۳۸
- هنري او نمايشي خپرونې ۳۸
- هنري او ا دبي خپرونې ۳۹

- د تلوېزيون د نظامي خپرونو رياست ۴۲
- د ملي دفاع وزارت يا اردو خپرونې ۴۳
- د څاروندی د برخې خپرونې ۴۴
- د امنيت يا د خاد د برخې خپرونې ۴۶
- د تعليمي او تربيتي تلويزيون رياست ۴۸
- د ولايتونو تلويزيون رياست ۴۹
- د تلويزيون تخنيکي معاونيت ۵۴
- د تلويزيون د ستديو ګانو لوی مديريت ۵۵
- د تلوېزيون د ګرځنده دستګاوو لوی مديريت ۵۶
- د ترميم لوی مديريت ۵۸
- د توليد لوی مديريت ۵۸
- د لايت مديريت ۵۸
- د ارتباط مديريت ۵۸
- مارس ۵۹
- شمشاد (لوتوس) ۶۱
- دتلوېزيون ترانسمېتر ۶۳
- د تلويزيون پرسونل ۶۵
- د ډاکټر نجيب الله په وخت کې تلويزيوني خپرونې ۶۶
- د مجاهدينو تر بري وروسته د افغانستان... ۶۸

خپلې خبرې

تلويزيون په نړۍ کې يوه ډېره ارزښتمنه ټولنيزه انځورېزه رسنۍ ده. چې د بېلابېلو موخولپاره تر کار اخيستل کېږي. راډيو که يواځې د غږ په مرسته معلومات خپرول، تلويزيون ورسره عکس هم ملګرې کړ. چې دا چاره تر ډېره ځايه خبر ته رښتينولي او نندارو ته زړه راښکون بڼې. تلويزيون نړۍ دهر ډګر انځورونه وړاندې کوي، د لوبو د سيالۍ خوند يې لاپسې ډېر کړی دی که لوبه د دنيا په يو ګوټ کې وي د بل ګوټ کتونکي به هم ځانونه په لوبغالي کې احساسوي. دا لاڅه د پرمختللو کمرو په را منځ ته کېدلو سره د تلويزيون کتونکي د لوبې د هغه ظرافتونو احساس کوي چې په لوبغالي کې ناست خلك يې نه وينې. ځکه خو دنړۍ په ځينو لوبغالو کې تلويزيونونه هم لګېدلي وي. د نورو معلوماتو اوتفريح تر څنګ تلويزيون د اعلانونو په خپرولو سره د سودا ګرۍ په ډګر کې د يو هېواد له پياوړتيا سره مرسته کوي. او په ستونزمنو حالاتو کې دهېواد د استوګنو غږ د نړيوالو تر غوږو رسوي. د تېرو څوکالو وچکالي يې نېه بېلګه ده. په دغه وچکالۍ کې چې پر افغانستان سربېره يې د پاکستان ځينې سيمې هم تر اغيز لاندې وې دافغانستان پر حال څوك نه خبريدل خو د پاکستان تلويزيون به په پرله پسې توګه د وچکالي

وهليو سيمو په اړه مستند فلمونه خپرول چې له دې لارې څخه خورا ډېرې مرستې تر لاسه شوې وې.

همدا راز تلويزيون کولای شي چې له هېواده لرې پراته وګړي له خپل کلتور سره ترلې وساتي، او د اړتيا پر وخت يې مرستې تر لاسه کړي، چې ګڼ شمير هېوادونه دغه راز خپرونې کوي.

په همدې هيله چې زمونږ خوار ملت دې هم د دغې انځورې رسنۍ له ګټو برخمن شي، ما دا کتاب ليکلی دی.

دا کتاب که له يوې خوا نه د افغانستان د تلويزيون د منځ ته راتلو زمانه انځوروي تر څنګه يې د پروګرامونو د جوړښت او ودې په اړه هم بنسټيز معلومات لري.

تلويزيون چې د ټولنيزو وګړو په افکارو کې د بدلون راوستو لپاره يوه ستره وسيله ده، په افغانستان کې د نورمحمد تره کي له وخته تر ډاکټر نجيب پورې دسياسي اغېز د غورځولو يو مهم ځای و، د کتاب تر لوستو وروسته دا خبره ښه څرګندېږي. چې کومې ډلې ترې ګټه او په څه توګه کار اخسته.

زه ددې کتاب په ليکلو سره دا دعوه نه کوم چې، ما دافغانستان د تلويزيون په اړه يو بشپړ او له تېروتنو څخه خلاص کتاب ليکلی دی، البته دا جرائت ما ددې لپاره کړی دی چې نور څېړونکي زما کار بشپړ کړي.

زما يوه بنسټيزه موخه داده چې اوس يو ځل بيا د تلويزيون دروازې پرانيستل شوي دي، ګوندې دغه پخوانی انځور د نومورې ارزښتناکې رسنۍ په جوړولو کې څه ناڅه برخه واخلي.

په افغانستان کې د ۱۳۵۵هـ ش کال د زمري يا اسد په مياشت کې د تلويزيون بنسټيز کارونه سرته ورسېدل او په ۱۳۷۵ کال کې د

طالبانو له راتلو سره يې دروازه وتړل شوه. له دې مخه د تلويزيون دغه لومړی پړاو ډېر اوږد نه و. او نږدې دوه لسيزې وخت يې ونيو.

په دغه پړاو کې د افغانستان تلويزيون ډېرې لوړې ژورې ولېدې. د افغانستان تلويزيون په اړه هېڅ کتاب نه دی تر سترګو شوی. ما له تلويزيون سره کار کړی دی. نو هڅه مې وکړه چې په دې اړه يو کتاب وليکم، زړه نازړه وم، خو فرهنګپالو دوستانو مې چې کله راټول کړې مواد وليدل په پرله پسې توګه به يې هڅولم چې بايد دا کتاب خامخا بشپړ کړم، په کتاب کې چې کوم مطالب راغلي دي هغه معلومات دي، چې ما هغه مهال د ببلابېلو ځانګو څخه تر لاسه کړي و، چې له تلويزيون سره مې کار کاوه، او يا مې په خپله له سترګو تير شوي و، هو رښتيا د ګران دوست محمد عزيز عالميار له يوې ليکنې څخه مې هم ګټه پورته کړې ده.

ښايي په پای کې يادونه وکړم چې دغه کتاب پوره يو کال مخکې چاپ ته چمتو و، خو د زياتو بوختياوو له امله مې و نه شو کړای چې هغه مهال يې چاپ کړم، نو ځکه د همدغه وروستي کال پېښې نه دي په کې ليکل شوي، او د طالبانو واکمنۍ پر مهال خو هسې هم د تلوېزيون په اړه يوازې دومره هم بس دي چې سړی ووايي چې په دغه دوره کې تلويزيون خپرونې نه درلودې.

نور څه نه وايم دا تاسو او دا هم کتاب.

شهنواز جانباز

۲۰۰۲ - ۵-۱-۶

تلويزيون

تلويزيون د ډله ييزه رسنيو د لېږدونې يوه ډېره مهمه او په زړه پورې وسيله ده چې پيښې، معلومات، مشغولتيا اوداسې نور په زړه پورې موضوعات کورنيو، پوهنتونونو، ښوونځيو او لنډه دا چې هر ځای کې خپلو مينه والو ته وړاندې کوي.

که څه هم د تلويزيون دپيدايښت څخه ډېره موده نه تېرېږي او د شلمې پېړۍ د اطلاعاتي تخنيك زېږنده دی، خو په ډېرې چټکۍ سره يې د نړۍ ګوټ ګوټ ته په کم وخت کې خپلې وړانګې داسې ور وغځولې چې ساری يې نه ليدل کېږي.

تلويزيون نه يوازې له سياسي او تولنيزه پلوه د اهميت وړ دي، بلکې د ښوونې او روزنې له ډېرو مهمو او پرمختللو وسيلو څخه ګڼل کيږي د ښوونځيو اولوړو زده کړو په وده او چټکتيا او همدرانګه د اذهانو په تنوير او روښانولو کې هم ډېر لوی رول لري.

تلويزيون انسان له يوازې والي څخه ژغوري. د ښلا ښلو پروګرامونو لکه سيا سي، تولنيز، هنري او نورو پرګرامونوله لارې خپله په زړه پورې ونډه سرته رسوي.

نو ځکه ما وغوښتل چې د افغانستان د تلويزيون په هکله راټول کړې معلومات د يوه کتابګوټي په ډول وړاندې کړم.

په افغانستان کې د ټلويزيوني پروژې پيل

کله چې په افغانستان کې د ټلويزيون د شتوالي اړتيا احساس شوه، نو د اړوندو دولتي چارواکو له خوا د ځينو هېوادونو سره په دې اړه خبرې اترې او ليدنې کتنې پيل شوې. په لومړي سر کې ځينو هېوادونولکه فرانسې، المان او جاپان خپل چمتوالی وښود، خو تر خبرو او کتنو وروسته جاپان دې ته حاضر شو چې په افغانستان کې د ټلويزيون د پروژې کار پيل کړي. همغه و چې د ۱۳۵۵کال د زمري (اسد) پر دوه ويشتمه چې د ۱۹۷۶ميلادي کال د اګست له پنځلسمې نېټې سره سمون خوري د ټلويزيون د تخنيکي وسايلو ټرون درادیو افغانستان د لوی رياست او د جاپان د ګڼې ماتسو ګوشوي کمپنۍ تر منځ لاسليک شو. په ټرون کې د دواړو خواوو دندې او مکلفيتو نه هم ليکل شوي و.

جاپان د همدې ټرون له مخې ومنله چې د ټلويزيون د اړتيا وړ تخنيکي وسايل به پر ټاکلي تاريخ افغانستان ته سپاري او هم به د ټلويزيون د فني زده کړو په منظور يو شمير افغاني زده کوونکو ته مسلکي زده کړې ورکوي.

د همدې قرارداد له مخې د ۱۳۵۶ کال په لومړيو مياشتو کې د ټلويزيون د بنسټ ډبره د افغانستان راديو تر څنګ کيښودل شوه لومړني

لګښتونه يې سل مليونه افغانيو ته ورسېدل، چې د افغانستان د دولت له بودجې څخه ورکړل شول. د ټلويزيون له سټډيو سره جوخت د خپرونې او تخنيك په څانګه کې يو شمېر تخنيکي او نشراتي کارکوونکي چې نوي د ټلويزيون د پروژې لپاره ټاکل شوي وو د زده کړې لپاره جاپان ته ولېږل شول.

د دې تر څنګ پر ۱۳۵۵ کال د اسمايي غره لوړې څوکې ته د سړک جوړولو کار د تيلو ذخيرې له ټانګه څخه د غره تر څوکې پورې د ۳۵۰۰ مترو په اوږدوالي او تر ځمکې لاندې د کېبل د تېرولو کار له سټډيو څخه د اسمايې غره تر لوړې څوکې پورې د مرکزي قول اردو قطعاتو په مرسته پيل او پر ۱۳۵۶ کال د نوموړي سرک او کېبل کار سرته ورسېد.

د ټلويزيون دسټډيوګانو او د هغه دترانسميتر کار د ۱۳۵۶کال په لومړنيو نهو مياشتو کې بشپړ او د تخنيکي وسايلو مونتاژ ته تيار شو.

د جاپان بلاعوضه (وړيا) مرسته نهه سوه پنځوس مليونه جاپاني روپۍ وې، چې د ۳،۲ مليونه امر يکايي ډالرو سره برابرې وې. دا پيسې د ټلويزيون په ترانسميتر او سټډيوګانو چې يوه يې د توليد يا پرودکشن لپاره چې سل مترە مربع مساحت يې درلود اودوه کمرې يې درلودې او بله يې د ديرشو مترو مربع په مساحت دانانسمينت په نامه د ماستر کنترول دوه کوټې ويديو ټايپ ريکاردر، تيلي سيني، سب کنترول اوپه نورو تخنيکي وسايلو ولګول شوې.

سربېره پر دې تر ټلويزيون بهر پروګرامونو لپاره يوه سياره (ګرځنده) دستګاه چې او، بي، وان(O.B.Van) نومېده دNEC له کمپنۍ څخه د ديرشو مليونو افغانيو په بيه واخيستل شو. چې په دې دستګاه کې درې کمرې ځای په ځای شوې. د دې تر څنګ يې د ثبت او خپرولو لپاره امکانات درلودل. د خبرونو، راپورتاژونو او مرکو د راټولولو لپاره د اي، اين، جي (E.N.G) په نامه کو چنۍ کمرې هم واخيستل شوې.

په نړۍ کې د ټلويزيون درې سيستمونه شته پا ل (PAL)، سيکم (SECAM)، اين تې ايس سي (NTSC) امريکايي سيستمونه دي، له دې دريو سيستمونو څخه د افغانستان ټلويزيون دپال په سيستم عيار کړای شو.

د ټلویزیون د خپرونو له پیل څخه د مخه د ټلویزیون دسیټونو واردیدل د سوداګرۍ وزارت او دځینو سوداګرو له خوا پیل شول. د ۱۳۶۰ لمریز کال د تلې یا میزان ترمیاشتې پورې چې کوم رنګه او تور سپین ټلویزیونونه له بهر څخه وارد شوي وو په لاندې ډول وو.

۱: تور اوسپین ۷۶۷۹۷

۲: رنګه ۴۲۵۴۶

چې ټول یې ۱۱۹۳۴۵ سیټونه وو خو په وروستیو کلونو کې افغان تعاوني شرکت په زیاته اندازه ټلویزیونونه وارد کړل چې په اسانو شرایطو او قسطونو مامورینو ته ورکړای شول.

په افغانستان کې د ټلويزيوني خپرونو پيل

د افغانستان ټلويزيون د لومړي ځل لپاره د جمهور رئيس محمد داود په وخت کې د ۱۳۵۷ لمريزکال د حمل يا وري د مياشتې پر لومړۍ شپه د افغاني کارپوهانو او جاپاني سلاکارانو په مرسته په خپلو ازمېښتي خپرونو پيل وکړ.

د ټلويزيون په ازمايشي خپرونوکې ورزشي خپروني، کارتوني فلمونه، د بهرنۍ او افغانۍ موسيقۍ ځينې پارچې خپرېدې، سربېره پردې دجمعو پر شپو به خبرونه هم خپرېدل. امتحاني خپرونو د ۱۳۵۷ لمريز کال د غويي مياشتې تر اوومې نيټې تر کودتا پورې دوام وکړ. د افغانستان د ټلويزيون خپرونې لاځلويښتۍ نه وه پوره شوې چې د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند له خوا کودتا وشوه او تر دې وروسته د ټلويزيون د خپرونو واک او اختيار د خلق او پرچم ډلو په لاس کې ولوېد.

د غويي تر کود تا وروسته ټلويزيوني خپرونې

کله چې د ۱۳۵۷ لمريزکال دثور يا دغويي دمياشتي پر اوومه په افغانستان کې کمونيزم پلوي خلق ګوند کودتا وکړه جمهور رئيس محمد داودخان ووژل شو، سياسي قدرت خلق ګوند تر لاسه کړ تر يوه لنډ ځنډ وروسته ټلويزيون بيا په امتحاني خپرونو پيل وکړ چې په اوونۍ کې يې څلور ځله خپرونې کولې. په دې خپرونوکې دسياسي مشرانو ليدنې کتنې، وطني موسيقي او له جمهوري رياست (ارګ) څخه چې د افغانستان د خلقي دموکراتيک ګوند له خوا د خلکو کور په نامه نومول شوی و د خلکو د ليدنو او کتنو راپورونه خپرېدل.

د ټلويزيون د ازمايښتي خپرونو په پيل کې د کابل ښار په مختلفو ناحيو کې د راديو ټلويزيون درياست له خوا د ټلويزيون رنګه سيټونه چې په هغه کې د ټلويويزيون ازمايښي خپرونې خپرېدې د خلکو دننداري لپاره ايښودل شوي وو. د دې ټلويزيون سيټونو ساتنه دکابل ښاروالۍ د ګذر د وکيلانو پر غاړه وه. دوی به هر مانښام د ټلويزيون سيټونه په ټا کلي بکس کې چې له اوسپنې څخه جوړ شوي وو او له ځمکې څخه يې جګ ايښودل او د خپرونې تر ختم وروسته به يې خپل کور ته وړل.

خو کله چې د افغان کارت او د ځینو سوداګرو له خوا د ټلویزیون سیټونه واردشول اوزیات شمیر خلکو د ټلویزیون سیټونه ترلاسه کړل، نو وروسته له دولتي ټلویزیون څخه ګټه اخیستل له منځه لاړل.

تا کل شوې وه چې د افغانستان جمهور رئیس محمد داودخان د زمري یا اسد پر اته ویشتمه چې د افغانستان د خپلواکۍ له ورځې سره برابره ده د افغانستان ټلویزیون په رسمي ډول پرانیزي، خو پر همدې ورځ ټلویزیون د افغانستان د خلق دموکرتیک ګوند د مرکزي کمیټې د عمومي منشي او د انقلابي شورا رئیس نورمحمد تره کې له خوا پرانستل شو.

وروسته تر دې ټلویزیون په منځني ډول هره شپه یو سا عت خپرونې کولې اود ۱۳۵۷ لمریز کال تر پایه پورې ټلویزیوني خپرونې یو نیم ساعت ته زیاتې شوې.

په دې خپرونو کې د ماشومانو، ځوانانو، بزګر، کارګر، زمور هېواد، د افغان موزیك نوې سندرې، راځئ چې فلم جوړکړو، د هنرمند څیره، د عطار ډبلی، هنر زیږوونکې ګوتې او د ورزش په خپرونو سربېره کارتوني، ذوقي، هندي، پېښوري پښتو فلمونه، مستند فلمونه، خبرونه راپورتاژونه، مرکې، موسیقي، نڅا او سندرې، د کا بل د نجونو او هلکانو له ځینو لیسو څخه د زده کوونکو سندرې، ملي اتڼونه چې د ټلویزیون په ستدیو کې به ثبتېدل هم خپرېدل اوکله نا کله به له خلکو سره ددولتي او ګوندي مشرانو د لیدنې کتنې او غونډو راپورونه خپرېدل، چې وروسته یې د ببرك کارمل په وخت کې پېښوري پښتو فلمونه، د ښوونځیو څخه د نجونو او ځوانانو کنسرتونه له زیاتو نیو کو سره مخامخ او خپرول یې منع شول، د وخت دولتي مقاماتو ویل چې پاکستاني (پېښوري) پښتو فلمونه د پښتنو له کلتور سره برابر نه دي.

همدرانګه د دي وخت له تبلیغاتو څخه یو هم دانقلابي شورا اووم مبر فرمان و چې دځمکو د دموکراتیکو اصلاحاتو په اړه و، ددې شعار لاندې چې ځمکه د هغې چا ده چې پرې کار کوي زیات تبلیغات کېدل. له هغو بزګرانو سره به مرکې کېدې چې د دې فرمان په لړ کې د ځمکې خاوندان شوي وو، نو د بزګر خپرونه ددې وخت له مهمو خپرونو څخه وه.

په دې وخت کې دجاپاني سلاکارانو تر څنګ لکه د افغانستان دنورو دولتي ادارو په څیر روسي سلاکاران هم تلویزیون ته راغلل. جاپاني سلاکارانو دستدیو د ثبت د وسایلو او د پروګرامونو د دایرکت سره سروکار درلود، خو د پروګرامونو له محتوا سره یې کار نه درلود، خو روسي سلاکاران په تخنیکي وسایلو او د پروګرامونو په دایرکت نه پوهېدل. د دوی دنده دا وه چې روسي فلمونه او سریالونه چې په شوروي اتحاد کې تولیدل هغه به یې پرته له دې چې دخلکو مینه او علاقه په نظر کې ونیسي خپرول. جاپاني سلاکاران د دې حالت په لیدو سره یو په بل پسې خپل هېواد ته لاړل او په دې ډول د تلویزیون پراختیا ته زیات زیان ورسېد.

د افغانستان دخلق دموکراتیک ګوند دمرکزي کمیټې عمومي منشي اود انقلابي شورا رئیس نورمحمد تره کی چې د غویي تر کودتا وروسته قدرت ته رسېدلی و د ۱۳۵۸ لمریز کال دسنبلې (وږي) په ۲۳ نېټه دارګ د جمهوري ریاست په مانۍ کې د نور محمد تره کي او د لومړي وزیر او بهرنیو چارو وزیر حفیظ الله امین د پلویانو تر منځ نښته وشوه. په نتیجه کې د حفیظ الله امین پلویانو نورمحمد تره کی ونیو اوهغه یې بندي کړ.

د وږي پر ۲۵ نېټه رادیو افغانستان د نورمحمد تره کي د له منځه وړو خبر خپور کړ او د ده پر ځای د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوندمرکزي کمیټې حفیظ الله امین چې نورمحمد تره کی یې له منځه وړي و غوره کړ، تر څو چې د تلې (میزان) پر ۲۵ د تلویزیون د اوو بجو په خبري سرویس کې په لومړي خبر کې پرته له دې چې د پخوا په شان د ده د خدمتونو یادونه وکړي وویل چې نور محمد تره کی د ورېښمي شوي ناروغۍ له امله مړ شو.

لنډه داچې دنور محمد تره کي او حفیظ الله امین په وخت کې تلویزیون ۱۷ میاشتې خپرونې وکړې، د دې خپرونو زیاته برخه تبلیغاتي خپرونې وې چې هدف یې د مارکسیزم تیوري او د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند د اهدافو خپرول وو.

یوازې په دې تفاوت چې د حفیظ الله امین د واک په دري میاشتنۍ دوره کې یې د مصوئیت، قانونیت او عدالت تر شعار لاندې ځینې خپرونې وکړې. د همدې کال د عقرب پر دریمه نېټه یې ددولس زرو تنو چې د

څرخي پله په زندان کې وژل شوي وو دکورنيو چارو په وزارت کې د خلکو د خبرتيا لپاره د نوموړي وزارت په دېوالونو لستونه وځړول او د کورنيو چارو وزارت مسولينو د دې خلکو کورنيو ته ويل چې هغه خلك چې نومونه يې په دې لستونو کې دي دنور محمد تره کي په وخت کې مړه شوي دي. په تلويزيون کې په دې هکله زياتي خپرونې وشوې. د وژل شوي کسانو مسوليت يې د نورمحمد تره کي پر اداري واچاوه. خو په خپله د تلويزيون په خپرونو کې کوم بدلون رانغی. تر څو چې د ۱۳۵۸ لمريزکال د جدي پر شپږمه د پخواني شوروي اتحاد پوځونو پر افغانستان برید وکړ او د هغه وخت د افغانستان د خلق دموکرتيك ګوند د مرکزي کمېټې عمومي منشي او جمهور رئيس حفيظ الله امين يې د دارالامان په تاريخي ماڼۍ کې وواژه.

ببرك کارمل يې د هغه پر ځای د افغانستا ن د خلق دموکراتيك د مرکزي کمېټې د عمومي منشي او انقلابي شورا د رئيس په توګه وټاکه. د افغانستان د نورو ادارو په څير دروسانو تر راتګ وروسته د تلويزيون په تشکيل او خپرونو کې هم زياتوالی راغی. د لسګونو نشراتي اوتخنيکي سلاکارانو په نوم په راديو او تلويزيون کې روسان ځای پر ځای شول.

د ۱۳۵۸ لمریزکال د جدي له شپږمې څخه د ۱۳۶۵لمریز کال د ثور تر ۱۴ نېټې پورې

د ببرك كارمل په وخت كې په لسګونو روسي تخنيكي او نشراتي سلاكاران ټلويزيون ته راغلل. ټلويزيوني خپرونو په ۱۳۵۸ لمريزكال كې د۱۳۵۷ كال په پرتله زياته پراختيا وموندە. د خپرونو وخت له يوه نيم ساعت څخه څلورو ساعتو او پنځه څلويښت دقيقو ته لوړ شو په ۱۳۵۹ لمريزكال كې د ټلويزيون خپروني پنځو نيمو ساعتو ته ورسېدې، په دې خپرونو كې زموږ هېواد، افغان موزيك نوې سندرې، راځئ چې فلم جوړ كړو، د هنرمند څيره، د عطار ډبلى، هنر زېږوونكي ګوتې او داسې نورې خپروني د ځينو دليلونو له كبله له نشر څخه پاتې شوې او د انقلاب ساتونكي، راپورتاژونه،ګردى ميز، نړيوال پروګرامونه لكه سپورتي لوبې، په ماتو زنځيرونو باندې،«چې بيا وروسته له خپرونې څخه پاتې شوې»د ټلويزيون له ارشيف څخه، څارندوى د خلكو په خدمت كې د پورتنيو يادو شويو خپرونو ځاى ونيو.

د يادونې وړه چې په ۱۳۵۸ لمريزكال كې د نورو خپرونو تر څنګ دنويو ځوانانو خپرونه، تصويرونه خبرې كوي، دليك اولوست د زده كړې خپرونه، ټلويزيوني نندارە، ترافيك د خلكو په خدمت كې هم خپرېدې.

سربېره پردې د هرې جمعې پر شپه، د روژې په مباركه مياشت او نورو متبركه شپو كې به ديني موعظه خپرېده. موعظه به د اسلامي ښوونو

وزارت د ملايانو له خوا ليکل کېده اود تلويزيون څخه به د دوی په خپل اواز خپرېده.

دېبرک کارمل په وخت کې د تلويزيون ټولې خپرونې د روسي مشاورينو تر نظر لاندې جوړېدې.

د هرې خپرونې پرودیوسر او دایرکتر مجبور و چې د خپلې خپرونې درې میاشتنی پلان جوړ او د مشاورینو تر نظر اخیستلو وروسته به یې د درې میاشتنې پلان سره سم کار کاوه.

مشاورینو په اداري جوړښت، او داشخاصو په ټا کلو کې هم رول درلوداو زیاتې هغه خپرونې چې دشوروي داهدافو څرګندویي وې په فوق العاده ډول به خپرېدې چې ټولې د افغان- شوروي پر دوستی. د کارګرو او بزګرو په جوړونکي رول لیکل کېدې.

بل خوا په همدې وخت کې یو شمېر دایرېکټران او پرودیوسران او تخنیکي همکاران بندیان شول او ځینې یې له هېواد څخه وتلو ته مجبور شول.

د ګوندي لومړني سازمان له موافقې پرته څوک نه شوی مقرر‌ېدای، سربېره پردې نومورې سازمان خپرونې هم کنټرولولې، ددې سازمان له کارونو څخه یو دا و چې نامسلکي ګوندي کارکوونکي یې د تلويزيون په مختلفو برخو کې وټاکل. دا او ځینې نور عوامل د دې سبب شول چې تلويزيوني خپرونې خپل معیار له لاسه ورکړي.

خوسره له دې هم د تلويزيوني خپرونو وخت د پخوا په پرتله څو ځله زیات شو او په ۱۳۶۴ لمریز کال کې د تلويزيون د خپرونو مهالویش په دې ډول و.

شنبه يا خالي

۵،۵۵ د ټلويزيون ارم او ملي سرود
۶،۰۰ دخپرونو معرفي
۶،۰۱ دکوچنيانو خپرونه او کارتوني فلم
۶،۳۰ دپرمختيا په لور
لومړۍ اودريمه اوونۍ
۶،۳۰ څارندوی دخلکو خدمتګار
دويمه او څلورمه اوونۍ
۶،۵۵ تجارتي اعلانونه
۷،۰۰ پښتو خبرونه
۷،۲۰ انتخابي سندرې
۸،۰۰ دري خبرونه
۸،۲۰ ټلويزيوني مجله (ادبي خپرونه)
لومړۍ اودريمه اوونۍ
۸،۲۰ مشعلداران هنر و دانش (ادبي خپرونه)
دويمه اوونۍ
۸،۲۰ شب شعريا قصه (ادبي خپرونه)
څلورمه اوونۍ
۱۰،۰۰ بهرني خپرونه
۱۰،۲۴ دشپې وروستي خبرونه
۱۰،۳۰ ملي سرود او ختم

یکشنبه یا اتوار

۵،۵۵ د تلویزیون ارم اوملي سرود
۰۰، ۶ د خپروني معرفي
۰۱، ۶ د ځوانانو نړۍ
۳۰، ۶ کرنه او مالداري
۵۵، ۶ تجارتي اعلانونه
۰۰، ۷ پښتو خبرونه
۲۰، ۷ کلیوالي سندري
۰۰، ۸ دري خبرونه
۲۰، ۸ هنري فلم
۲۴، ۱۰ دشپي وروستي خبرونه
۰۰، ۱۱ ملي سرود او ختم

دوشنبه يا کل

۵،۵۵ د تلويزيون ارم او ملي سرود
۰۰، ۶ دخپروني معرفي
۶،۰۱ د کو چنيانو خپرونه او کارتوني فلم
۶،۳۰ زمونږ ستر شمالي ګاونډی (په دې خپرونه کي دپخواني شوروي اتحاد سياسي، فرهنګي او ټولنيز مطالب خپرېدل)
۶،۵۵ تجارتي اعلانونه
۷،۰۰ پښتو خبرونه
۷،۲۰ انتخابي سندري
۸،۰۰ دري خبرونه
۸،۲۰ د خلکو فرهنګ (ادبي خپرونه)
لومړي اودرېيمه اوونۍ
۸،۲۰ هفت شهر هنر(ادبي خپرونه)
دويمه اوونۍ
۹،۳۰ کلاسيکه موسيقي
لومړۍ اودرېيمه اوونۍ
۹،۳۰ دغزل بزم
دويمه او څلورمه اوونۍ
۱۰،۲۴ د شپې وروستي خبرونه
۱۰،۳۰ ملي سرود او ختم

سه شنبه يا نهې

۵،۵۵ د تلويزيون ارم او ملي سرود
۰۰، ۶ د خپرونې معرفي
۶،۰۱ دماشوم خپرونه او کارتوني فلم
۶،۳۰ دکارګر خپرونه
۶،۵۵ تجارتي اعلانونه
۷،۰۰ پښتو خبرونه
۷،۲۰ نواى کهسار(موسيقي)
اوله اودويمه اوونۍ
۷،۲۰ تکنوازي
دويمه او څلورمه اوونۍ
۸،۰۰ دري خبرونه
۸،۲۰ برنامه برګ ها/ (ادبي خپرونه دنويو چاپ شووکتا بونو معرفي).
لومړۍ اوونۍ
۸،۲۰ تلويزيوني سريال
۲۰، ۹ بهرنۍ خپرونه
۱۰،۲۴ د شپې وروستي خبرونه
۱۰،۳۰ ملي سرود او ختم

چهارشنبه یاشورو

۵،۵۵ د تلویزیون ارم او ملي سرود
۶،۰۰ د خپرونې معرفي
۶،۱۰ د کوچنیانو خپرونه
او کارتوني فلم
۶،۳۰ دښځې او ټولنې خپرونه
۶،۵۵ تجارتي اعلانونه
۷،۰۰ پښتو خبرونه
۷،۲۰ انتخابي سندرې
۸،۰۰ دري خبرونه
۸،۲۰ ازمونګا ه ذهن او (د ځوانانو په ګډون تفریحي او معلوماتي خپرونه) لومړۍ او درېیمه اوونۍ
۸،۲۰ غوره پوښتنې یا پاسخ چیست (د ځوانانو په ګډون معلوماتي او تفریحي خپرونه) دویمه او څلورمه اوونۍ
۹،۲۰ بهرنۍ خبرونه
۱۰،۲۴ د شپې وروستي خبرونه
۱۰،۳۰ ملي سرود او ختم

پنجشنبه یا زیارت

۵،۵۵ د تلویزیون ارم او ملي سرود
۶،۰۰ د خپروني معرفي
۶،۰۱ دیني مو عظه
۶،۱۰ پوهنه د خلکو لپاره
۶،۳۰ دلوبو خپرونه
۶،۵۵ تجارتي اعلانونه
۷،۰۰ پښتو خبرونه
۷،۲۰ رنګا رنګ سندرې (بهرنۍ سندرې)
۸،۰۰ دري خبرونه
۸،۲۰ در سیاره ما(علمي خپرونه)
۸،۴۵ انتخابي سندرې
دویمه اوځلورمه اوونۍ
۹،۱۵ هنري فلم
۱۱،۲۴ د شپې وروستي خبرونه
۱۱،۳۰ ملي سرود او ختم

د جمعې سهارنۍ خپرونه

۸،۵۵ د ټلويزيون ارم او ملي سرود

۹ ، ۰۰ خبرونه

۹،۰۶ د حيواناتو نړۍ (د حيواناتو په اړه علمي او معلوماتي مطالب)
لومړۍ او درېيمه اوونۍ

۹،۰۶ علمي راپور (داختراعاتو په اړه علمي راپور)
دويمه او څلورمه اوونۍ

۹،۲۶ د ټلويزيون دارشيف څخه (تفريحي او ادبي خپرونه)
لومړۍ دويمه او درېيمه اوونۍ

۹،۲۶ برنامه چشم انداز (تمثيلي پارچې) څلورمه اوونۍ

۱۰،۲۰ هنري فلم دکوچنيانو لپاره.

۱۰،۲۰ له سرتيرو سره مرکې او د هغوی خوښې کړې سندرې

۱۲،۰۰ ملي سرود او ختم.

د جمعې مانبامنۍ خپرونه

۵،۵۵ د ټلويزيون ارم اوملي سرود
۶،۰۰ دخپروني معرفي
۶،۰۱ دانقلاب ساتونکي خپرونه (نظامي خپرونه)
۶، ۳۰ دروغتيا خپرونه
۶،۵۵ تجارتي اعلانونه
۷،۰۰ پښتو خبرونه
۷،۲۰ انتخابي سندرې
لومړۍ اودرېيمه اوونۍ
۷،۲۰ نوي اهنګونه
دويمه او څلورمه اوونۍ
۸،۰۰ دري خبرونه
۸،۲۰ داوونۍ مهمو پېښو ته يوه کتنه
۸،۴۰ ټلويزيوني سريال
۹،۴۰ بهرني خپرونه
۱۰،۲۴ دشپې وروستي خبرونه
۱۰،۳۰ ملي سرود او ختم

د ټلويزيون پورتنۍ خپرونې د لاندو ادارو په مرسته خپرونې ته چمتو کېدې.

د ټلويزيون د خپرونې رياست

په ۱۳۵۷ لمريزکال کې کله چې ټلويزيون په امتحاني خپرونو پيل وکړ، د راديو ټلويزيون په عمومي رياست کې ټلويزيون د يو امريت له خوا اداره کېده چې مشري يې مصطفی رسولي پر غاړه وه او وروسته محمد طاهر اخکزي دا دنده تر سره کوله. خو کله چې په ۱۳۵۸ کال د جدي پر شپږمه پخواني شوروي اتحاد افغانستان اشغال کړ، په دولتي تشکيلاتو کې هم زياتوالی راغی. په دې لړ کې د ټلويزيون آمريت رياست ته لوړ شو، چې لومړنی رئيس يې عبدالله شادان و. په ترتيب سره د ډاکتر نجيب الله حکومت تر سقوط پورې د نومورې رياست دنده، غلام نبي کاوه، مختارزوبين او هارون يوسفي پر غاړه وه او نومورې رياست دا لاندې اداري درلودې:

۱: د سياسي او ټولنيزو خپرونو لوی مديريت.
۲: د اطلاعاتو لوی مديريت.
۳: د سينمايي خپرونو لوی مديريت.
۴: د نړيوالو خپرونو لوی مديريت.
۵: د ارزيابۍ او انسجام لوی مديريت.
۶: د ارت او ګرافيک لوی مديريت.
۷: د ارشيف مديريت.
۸: د اعلاناتو مديريت.

۹: د ټلويزيون د مستندو فلمونو مديريت.

۱۰: د موسيقۍ لوی مديريت.

د ادارو د لاندې پروګرامونو په جوړولو کې برخه درلوده.

اول: د ټلويزيون د سياسي او ټولنيزو خپرونو لوی مديريت:

ټلويزيون له پيل څخه د ۱۳۵۹ لمريز کال تر لومړيو وختونو پورې دې مديريت د روزنې اداري په نامه خپرونې کولې. کارکوونکي يې تکړه او با تجربه ژورنا لستان او کارپوهان وو چې اکثرو يې د ټلويزيون په برخه کې مسلکي زده کړې درلودې. دغې اداري دنده درلوده چې مختلف سياسي، ټولنيز، ديني، علمي، معلوماتي مطالب په خپلو خپرونوکې وڅېړي.

د ۱۳۵۹ کال څخه وروسته ددې اداري نوم د سيا سي او اجتماعي خپرونو په نوم بدل شو او د معلوماتي او تربيوي مديريتونو په نوم يې دوه مديريتونه درلودل او ددې دوو مديريتونو له خوا دا لاندې خپرونې برابرېدې.

۱: د ماشوم خپرونه: دا خپرونه د وړکتون اوتر درېيم ټولګي پورې ماشومانو لپاره په اوونۍ کې دوه ځله يو ځل په پنښتو او يو ځل په دري د ۲۵ دقيقيو لپاره تهيه کېده. په دې خپرونه کې د ماشومانو لپاره کيسې، د ماشومانو رسمونه، خطاطي، ټو کې، نڅاوې، ترانې او د دې تر څنګ کارتوني فلمونه چې د ماشومانو له ذوق سره برابر وو خپرېدل. سربېره پردې په دې خپرونه کې به د کابل ښار د مختلفو وړکتونو څخه د ماشومانو نندارې، ترانې او تمثيلي پارچې چې دوی به اجرا کولې خپرېدې.

۲: دکوچنيانو خپرونه: دا خپرونه هم په اوونۍ کې دوه ځله يو وار په پنښتو او بل ځل په دري ژبه د ۲۵ دقيقو لپاره خپرېده.

دا خپرونه تر درېيم ټولګي لوړو زده کوونکو لپاره خپرېده. په دې خپرونه کې هم لکه د ماشوم خپرونې په څېر دکوچنيانو رسمونه، خطاطي، د دوی رالېږل شوې کيسې، د هنر مندو ماشومانو سندرې، د تکړه کوچنيانو سره مرکې، د کوچنيانو کارتوني فلم او داسې نور مطا لب چې دماشومانو د مينې وړ وو خپرېدل.

۳: د تنکیو ځوانانو خپرونه: دا خپرونه د تنکیو ځوانانو لپاره چې عمرونه يې له ۱۲ کالو څخه تر اتلسو کالونو پورې وو جوړېده. د تنکیو ځوانانو خپرونه په اوونۍ کې يو ځل د ۳۰ دقیقو لپاره تیارېده. دا خپرونه په پښتو او دري ژبو وه.

په نومورې خپرونه کې له تنکیو ځوانانو سره مرکې، معلو ماتي مطالب دتنکیو ځوانانو پر ستو نزو خبرې او د هغو د حل لارې چارې، د موسیقۍ ښکلې پارچې به هم د دې خپرونې له لارې چې په خپله تنکیو ځوانانو ویلې وې خپرېدې، خو وروسته دا خپرونه له منځه لاړه. په دې خپرونه دا نیوکه وه چې د تنکیو ځوانانو او د ځوانانو خپرونې مطالب او ګډون کوونکي يو شان دي.

۴: د ځوانانوټرۍ: لومړنۍ خپرونه چې د تلویزیون څخه خپره شوه هغه دځوانانو خپرونه وه. دا خپرونه د روزنې اداري له خوا جوړه شوې وه.

د ځوانانو خپرونه په پښتو اودري ژبو هره اوونۍ د نیم سا عت لپاره خپرېده چې زیات مینه وال يې درلودل. په دې خپرونه کې له لایقو او ممتازو ځوانانو سره د ځوانانو د ژوند پر مختلفو اړخونو مرکې، د ځوانانو موسیقي، معلوماتي مطالب، د بهرنیو ځوانانو سندرې او داسې نور مطا لب خپرېدل.

۵: کرنه او مالداري: کله چې تلویزیون پر خپرونو پیل وکړ د بزګر یا دهقان په نوم خپرونه د تلویزیون له لومړنیو خپرونو څخه وه. اهمیت يې په دې کې و چې د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند عمومي منشي او د انقلابي شورا رئیس نور محمد تره کي په افغانستان کې د ځمکو دموکراتیک اصلاحات اعلان کړل. په دې خپرونه کې به (ځمکه دهغه چا ده چې کار پرې کوي) تر دې شعار لاندې به د افغانستان له بېلا بېلو سیمو څخه د ځمکې د اصلاحاتو راپورتاژونه او خبرونه خپرېدل او له هغو بزګرانو سره چې د دې فرمان له مخې د ځمکې خاوندان شوي وو مرکې خپرېدې.

PROPERTY OF ACKU 10187

سربېره پردې دانقلابي شورا اووم نمبر فرمان په هکله د غونډو جريان د وخت د حکومت د لوړ رتبه کارکوونکو ويناوې او د نوموړي فرمان د تحليل او تفسير په اړه مطالب خپرېدل. لنډه دا چې دا خپرونه د وخت له مهمو خپرونو څخه وه چې هره اوونۍ به يو ځل د ۱۵ دقيقو لپاره په پښتو او دري ژبو خپرېده.

خو کله چې پخواني شوروي اتحاد پر افغانستان برید وکړ د افغانستان جمهور رئيس حفيظ الله امين يې ووژه او ببرک کارمل يې د ده پر ځای وټاکه د ټلويزيون په خپرونو کې هم بدلون راغی. د بزګر خپرونه چې د ټلويزيون د روزنې اداري له خوا خپرېده د کرنې او مالداری په نوم يې پر خپرونې پيل وکړ، چې په مطالبو کې يې هم بدلون راغی. په دې خپرونه کې به د ميکانيزه کرنې، د بزګرانو د کوپراتيفونو،له وطن څخه د بزګرو د دفاع کميټې له غړوسره مرکې، د اصلاح شويو تخمونو د استعمال او داسې نورو مطالبو په اړه خپرونې کېدې. د دې تر څنګ د کيمياوي سرو د استعمال په اړه هم مطالب خپرېدل.

۶: د کارګر خپرونه: د کارګر خپرونه په اوونۍ کې يو ځل د ۱۵ دقيقو لپاره په پښتو اودري ژبو خپرېده.

دا خپرونه د ټلويزيون د مهمو خپرونو څخه وه چې حکومتي چارواکو ورته زياته پاملرنه درلوده (د نړۍ کارګرانو يو شئ) تر شعار لاندې به يې خپرونې کولې، ځکه د افغانستان دموکراتيک جمهوريت چې دکودتا په ترڅ کې را منځ ته شوی وځان يې دکارګرو نماينده باله. په داسې حال کې چې په افغانستان کې کارګر د ګوتو په شمار وو.

په هر ترتيب په دې خپرونه کې به هم له کارګرانو سره مرکې، دپخواني شوروي اتحاد دکارګرو د کار او د دوی د مبارزو په هکله روسي فلمونه، د ځينو فابريکو څخه راپورتاژونه، له ممتازو کارګرانو سره مرکې، د نوې جوړې شوې کارګري اتحاديې په اړه معلومات او د دې اتحاديې د جوړېدو اړتيا، د دې اتحاديې له کارکونکو سره مرکې له انقلاب څخه د کارګرو د

دفاع کمیټې دغړو سره مرکې او داسې نور مطالب د دې خپرونې له لارې خپرېدل.

۷: د ښځې او ټولنې خپرونه: د ښځې او ټولنې خپرونه هره اونۍ د ۱۵ دقیقو لپاره په پښتو او دري ژبو تهیه کېده. په دې خپرونه کې په ښځو پورې اړوند مطالب خپرېدل.

په دې خپرونه کې په اشپزۍ او خیاطۍ سربېره د افغانستان د ښځو سازمان له استازو سره مرکې او د دوی د فعالیتونو په هکله راپورتاژونه او د ماشومانو د روزنې په هکله مطالب خپرېدل. سربېره پر دې په دې خپرونه کې به د افغانستان او د نړۍ نومیالۍ ښځې هم معرفي کېدلې.

۸: د لوبو خپرونه: دا خپرونه هم هره اوونۍ د ۱۵ دقیقو لپاره په پښتو او دري ژبو تهیه کېده. په دې خپرونه کې دلوبو خبرونه، له کابل پوهنتون، جمنازیم اود غازي ستدیوم څخه د لوبو راپورتاژونه، له ممتازو لوبغاړو سره مرکې، د بهرنیو لوبو راپورتاژونه، د لوبغاړو د روزنې لپاره د فوټبال، والیبال، باسکټبال، هاکي د لوبو د تخنیک او تکتیک فلمونه ښودل کېدل.

۹: د انقلاب ساتونکي: د انقلاب ساتونکو خپرونه لومړی د روزنې اداري له خوا هره اوونۍ د ۱۵ دقیقو لپاره په پښتو او دري ژبو خپرېده.

په دې خپرونه کې د افغانستان د دفاع وزارت د رژیم د مخالفینو د منځه وړو راپورونه او د دفاع وزارت د جګړه ییزه فعالیتونو راپورونه خپرېدل، خو وروسته دې خپرونې د نظامي خپرونو په ریاست کې په فعالیت پیل وکړ چې وروسته به په تفصیل سره پرې خبرې وکړو.

۱۰: دذهني ازموینې خپرونه: دا خپرونه په اوونۍ کې یو ځل دیوه ساعت لپاره په پښتو اودري ژبو د ټلویزیون د روزنې اداري له خوا تیارېده.

په دې خپرونه کې په ذهني پوښتنو سربېره معلوماتي مطالب په يوځانګړې ډول وړاندې کېدل. دا خپرونه د ټلويزيون له هغو خپرونو څخه وه چې زيات مينه وال يې درلودل خپرونه به د کابل نندارې په تالار کې ثبتېده چې د پنځوسوو په شاوخوا کې ځوانانو او د دې خپرونې مينه والو په کې ګډون کاوه.

په دې خپرونه کې به هغو ګډون کوونکوته چې پوښتنو ته به يې سم ځواب وايه جايزې هم ورکول کېدې، جايزې به دې خپرونې ته تجارانو رالېږلې او وروسته به په بريالیو ګډون کوونکو ويشل کېدې او دګډون کوونکو د خوښې لپاره به يوه هنرمند کنسرت هم ورکاوه.

۱۱: ځارندوی د خلکو په خدمت کې: دا خپرونه په هره اوونۍ کې د۱۵ دقيقو لپاره په پنبتو او دري ژبو د روزنې اداري له خوا خپرېده، په خپرونه کې به د ځارندوی او ترافيکو فعاليتونو او ځينو جنايي پېښو په باب خبرونه خپرېدل. دا خپرونه وروسته له نظامي رياست سره يو ځای شوه، چې وروسته به پرې خبرې وکړو.

۱۲: دېنې خپرونه: دا خپرونه د ټلويزيون له پيل څخه د روزنې اداري له خوا تهيه کېده. په لومړيو وختونو کې يوازې د جمعې په شپو به يوه اوونۍ په پښتو اوبله اوونۍ په دري د پنځو دقيقو لپاره موعظه خپرېده البته ملا او موعظه به د اسلامي شوؤنو وزارت له خوا ټلويزيون ته رالېږل کېدل وروسته له ثبته به بيا نومورې موعظه دجمعې په شپه خپرېده. خودې خپرونې ته د ډاکټر نجيب الله په وخت کې چې دپخوانۍ شوروي اتحادلښکرې له افغانستان څخه ووتې او ملي روغه جوړه يې اعلان کړه زياته پاملرنه وشوه د ډاکټر نجيب الله په وخت کې د ټلويزيوني خپرونو پيل چې پخوا په ملي سرود کېده د ټلويزيون دخپرونې پيل د قران کريم په تلاوت پيل شو. له ټلويزيون څخه د مابنام او ماښتن لمانځه اذان د لومړي ځل لپاره د پخوانۍ شوروي اتحاد تر اشغال وروسته پيل شو. د روژې په مبارکه مياشت کې به هرمابنام د روژې ځانګړې خپرونه چې په هغې کې به د قرآن کريم تلاوت، موعظه، نعت، حمد او د روژې د مبارکې مياشتې په

هکله د ديني عالمانو ليکنې خپرېدې. همدرانګه د هرې جمعې په مابنام به د هېواد د پياوړي قاري استاد قاري برکت الله سليم په همت د ۱۵ دقيقو ليپاره د تجويد درس له تلويزيون څخه خپرېده. د دې تر څنګ د مذهبي ورځو ليپاره به ځانګړې خپرونې جوړېدې او بيا به له تلويزيون څخه خپرېدې.

سربېره پردې خپرونو چې د تلويزيون د روزنې اداري له خوا تهيه کېدې په وروستيو وختونو کې ځينې نورې خپرونې لکه د کسبګرو خپرونه، د خصوصي پانګوالو خپرونه، ټولنه او حقوق، ملي روغه او جوړه، او ورزشي سرګرمي چې زيات مينه وال يې درلودل خو بيا له دې خپرونو څخه ځينې يو په بل پسې له منځه لاړې.

د دې اداري لومړی مدير عزيز عالميار، ورپسې اسحاق جهيش، بيا مختار ژوبين، وروسته مدير يې دډاکتر نجيب الله حکومت ترسقوط اود مجاهدينو تر راتګ پورې شهنواز جانباز و. چې وروسته تر هغه بيا مختار ژوبين و.

د ټلويزيون داطلاعاتو مديريت

د ټلويزيون د اطلاعاتو اداري د ټلويزيون له پيل څخه د ټلويزيون د خپرونو رياست په چوکاټ کې په فعاليت پيل وکړ او له مهمو ادارو څخه وه. د دې اداري دنده ټلويزيون ته د خبرونو، راپورتاژونو او د خبري مطالبو په هکله د ګردیو میزونو جوړول وو، دې اداري دوه څانګې درلودې.

۱: دخبرونو څانګه

۲: دراپورتاژونو څانګه

الف: د خبرونو څانګه: د خبرونو څانګې ټول هغه خبري او اطلاعاتي مسایل چې په هېوادکې دننه او بهر له هېواد پېښېدل ځینې یې د خپلو راپورترانو او ځینې یې له نړیوالو اژانسونو او باختر اژانس څخه تر لاسه کول البته ټول خبري مطالب به په تصویري ډول د نشر لپاره برابرېدل. د خبرونو په څانګه کې تکړه او با تجربه خبریالان او دایرکټران وو، دوی به هره ورځ د خبرونو پر تهیه کولو سربېره سیاسي تبصرې او ځینې وخت به یې سیاسي مطالب هم څېړل، کله کله به یې د باختر د اطلاعاتي اژنس سیاسي تبصره او کله کله به یې د رادیو ټلویزیون د سیاسي مبصرینو تبصرې د افغانستان د مختلفو سیاسي مسایلو په هکله خپرولې.

د ټلويزيون د اطلاعاتو اداري هر شپه دوه خبري سرويسونه درلودل چې پر اووبجو به پښتو او اتو بجو به دري خبرونه وو.

د ۱۳۵۸ لمريز کال تر نيمايي وورسته د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند د مرکزي کميټې د عمومي منشي حفيظ الله امين په هدايت په انګريزي ژبې خبرونه د لومړي ځل لپاره له ټلويزيون څخه پيل شول، خو ډېر دوام يې و نه کړ او دا خبري سرويس له منځه لاړ.

ب: د راپورتاژونو څانګه: لکه څنګه چې له نوم څخه يې معلومېږي د دې څانګې دنده د افغانستان له مرکز کابل او د بېلا بېلو ولايتونو څخه د راپورتاژونو برابرول وو چې د دې اداري د ژورنالېستانو له خوا به تهيه کېدل.

په دغو راپورتاژونو کې د افغانستان له مرکز څخه بېلا بېلو ولايتونو ته د حکومتي چارواکو دسفرونو او له خلکو سره د دوی د ليدنې کتنې راپورتاژونه د افغانستان له بېلا بېلو سيمو څخه د سياسي، نظامي، اقتصادي او په ځانګړي توګه د نظامي پېښو راپورتاژونه او په مرکز کې له دولتي غو نډو څخه راپورتاژونه برابريدل. د يادونې وړ ده چې د ټلويزيون د عمومي رياست په چوکاټ کې د ټلويزيون د نظامي خپرونو د رياست په جوړېدو سره د افغانستان نظامي مسايل د دې رياست له خوا خپرېدل چې وروسته به پرې بحث وشي.

د ټلويزيون داطلاعاتو اداري د خبرونواو راپورتاژونو تر څنګ داوونۍ مهمو پېښو ته يوه کتنه خپرونه هم درلوده چې د هرې اوونۍ په پای کې به د افغانستان مهمې پېښې ته يو ځغلند نظر کېده.

ددې اداري بله خپرونه د پانورام په نامه يادېده چې نړيوالې مهمې پېښې به د شمشاد له لارې ترلاسه کېدې او بيا به د دې خپرونې له لارې د هرې اوونۍ په پای کې خپرېدې.

د افغانستان په ټلويزيون کې د لومړي ځل لپاره د نګاه په نامه يوه انتقادي خپرونه چې د ټلويزيون د اطلاعاتو اداري له خوا ثبت او ترتيبېده رامنځ ته شوه، دنګاه خپرونه به په اوونۍ کې يو ځل د يوې موسسې د منفي کړنو او نيمګړيتاوو په اړه تصويرونه او مرکې برابرولې بيا به يې په دې اړه د مسوولو چارواکو نظر اخيست. دا خپرونه د ليدونکو زياته خوښه

وه او زیات مینه وال یې درلودل، څکه په دې خپرونه کې د افرادو او اشخاصو منفي بر خوردونه، اختلاس، رشوت، سوء استفاده او هغه کړنې چې د ټولنې لپاره مضرې وې په مستند ډول خپرېدې چې زیاته یې اصلاحي بڼه درلوده.

دا خپرونه وروسته تر نهو خپرونو چې د دولت په منځ کې یې زیات حساسیت پیدا کړ، د دولت له خوا بنده شوه او د دریو کالو څخه وروسته دې خپرونې د ټلویزیون د هنر او ادبیاتو اداري له خوا د اینه په نامه په خپرونې پیل وکړ.

د دې اداري لومړۍ مدیر د هېواد تکړه ژورنالست او نطاق عنایت شریف و، ورپسې داود سرلوړی بیا اسمعیل فروغي بیا نام حق زیرک و.

۳: دسینمایي خپرونو لوی مدیریت:

د ۱۳۵۹ لمریز کال تر پیله پورې دا اداره د فلمونو د عمومي مدیریت په نامه یادېده، وروسته د سینمایي خپرونو د لوی مدیریت په نامه ونومول شوه.

د دې اداري له خوا په سریالونو، کارتوني فلمونو او د هرې جمعې په شپه پر هنري فلم سربېره زمونږ لوی شمالي ګاونډی، زمونږ نړۍ، رنګارنګ خپرونې به د همدې مدیریت له خوا تهیه او خپرېدې. فلمونه به د جمعې او یکشنبو په شپو اوسریالونه به دهرې شنبې او چهارشنبې په شپو خپرېدل

د دې اداري سره به د فلمونو په تهیه کولو کې دا فغان فلم لوی ریاست او د ښار ځینو سینماګانو مرسته کوله، کله کله به خلکو هم داداري ته نوي فلمونه د مرستې په توګه ورکول. فلمونه به وروسته تر ترجمې د تکړه نطاقانو او ځینې وخت د ممثیلینو له خوا په پښتو او دري ژبو دوبله یا ویل کېدل.

د ټلویزیون د خپرونو په لومړیو وختونو کې ځینو هېوادونو د ټلویزیون سره د کارتوني، هنري او ذوقي فلمونو مرسته وکړه، د بېلګې په توګه شوروي اتحاد ۱۰۶ فلمونه، ۹ سریالونه، د۲۵ دقیقو ساعتونو لپاره

کارتوني فلمونه د ۳۰ ساعتونولپاره مستند فلمونه اودېرش ساعته ذوقي فلمونه.

او دالمان د موکراتيك جمهوريت ۱۲ هنري فلمونه او ۱۲ سريالونه

هنګري ۵ هنري فلمونه.

کوريا ۵ هنري فلمونه.

ويتنام ۲ هنري فلمونه.

چکوسلواکيا ۱۲ هنري فلمونه او دلسو ساعتو په اندازه کارتوني فلمونه.

منګوليا ۲ فلمونه.

بلغاريا دوه فلمونه او يو سريال.

يوګوسلاويا ۳ هنري فلمونه.

پولند يو هنري فلم.

د فرانسې د پيداګوژيك مرکز ۳۳ هنري فلمونه، ۵ سريالونه د اوو ساعتونو په اندازه کارتوني، ذوقي فلمونه او موسيقي او ګويته انسټيتيوت پر هنري، کارتوني او ذوقي فلمونو سربېره تر ۷۰ زيات سريالونه تلويزيون ته د مرستې په ډول ورکړل.

دې اداري دوه مديريتونه درلودل چې يو يې د کارتوني فلمونو او بل يې د مستندو فلمونو و. د سينمايي خپرونو لوی مديريت د فلمونو تر څنګ دا لاندې خپرونې هم د خپرولو لپار برابرولې:

۱ : دسينما خپرونه:

په دې خپرونه کې به په نړۍ کې د سينما په هکله تازه خبرونه، د سينما د پروديوسرانو او دايرکترانو پېژندګلوي او د هغو فلمونو معرفي چې نړيوالې جايزې به يې تر لاسه کړې وې. د فلم د تهيه کولو له جريان څخه مرکې او داسې نور مطالب خپرېدل.

۲ : ساعتی با شما:

په دې خپرونه کې به د نړۍ سياستمدرانو او د جمهور رئيسانو د شخصي ژوند په هکله معلومات، مرکې، له غوره شاعرانو سره مرکې، د

پوهنتون او ښوونځيو له ممتازو زده کوونکو سره مرکې، له هنرمندانو سره مرکې او د دوی د سندرو معرفي، له هغو ډاکترانو سره مرکې چې مهم عملیات به يې تر سره کړي وو اوداسې نور مطالب خپرېدل.

لنډه دا چې دې خپرونې زیات مینه وال درلودل همداسې د دې خپرونې لو مړۍ کلیزه د يوې شانداري غونډې په ترڅ کې د لیدونکو په مالي مرسته ولمانځل شو.

سربېره پردې د سینمايي خپرونو لوی مدیریت د ملي او خاصو ورځو په مناسبت ځانګړي پروګرامونه جوړول، د دې تر څنګ يې د شب غزل په نامه هندي موسیقي په هرو ۱۵ ورځو کې د نیم ساعت لپاره خپرولـه. د دې اداري مدیران په ترتیب سره د ډاکتر نجیب الله تر سقوط او د مجاهدینو تر راتګ پورې په لاندې ډول وو:

شکریه رعد، عبدالفتاح روشنګر، زهره رهګذر او اسدالله سیفي او عبدالحی عابر.

۴: د تلویزیون د مستندو فلمونو مدیریت:

د تلویزیون د خپرونوریاست په چوکاټ کې لومړی د اړتیا له مخې د مستندو فلمونو په نوم یو مدیریت جوړ شو. کله چې د دې مدیریت له خوا ځینې مستند فلمونه جوړ او له تلویزیون څخه خپاره شول د وخت د مقاماتو د پاملرنې وړ وګرځېدل. وروسته دا مدیریت د داستاني او مستندو فلمونو د عمومي مدیریت په نوم ونومول شو.

په لومړي وخت کې د دې مدیریت دنده عبدالبشیر رویګر چې وروسته د نجیب الله په وخت کې د اطلاعاتو او کلتـور وزیر شو په غاړه درلوده، د فلمونو په تهیه او دایرکت کې سعید ورکزي، فقیر نبي، جان محمد جوانشیر او موسی رادمنش او د فلم په اخیستو کې عبید ورکزي مرسته کوله.

نومورې اداري د خپل کار په جریان کې یو شمېر ممثلین، دایرکتران، پرودیوسران او لیکوالان هم وروزل او ځینې فلمونو يې جایزې هم تر لاسه

کړې ان تر دې چې ځينې فلمونه په بهرنيو فيستوالونو کې دنندارې لپاره هم وښودل شول.

د هنري فلمونومديريت دوه پرودیسران، يو فلمبردار او يولايت مين درلود، او د مستندو فلمونو مديريت هم دوه پرودیسران، يو فلمبردار اويولايت مين درلود.

په نوموړي مديريت کې څلور مجرب دايرکتران وو چې دنده يې درلوده دکال په هرو دريو مياشتو کې دري مستند او دوه هنري فلمونه جوړ کړي

ممثلين به د سناريو په نظر کې نيولو سره دهنر او ادبياتو له رياست څخه دعوت کېدل.

۵: د نړيوالو خپرونولوی مديريت:

دا اداره دهغو پرګرامونو دتنظيم او انسجام لپاره په ۱۳۶۰ لمريز کال کې رامنځته شوه چې دمارس د دستګا له لارې به يې تر لاسه کول او د تلويزيون دنړيوالو خپرونو په نوم ونومول شوه.

د اداري د خپل د جوړېدو د وخت څخه وکولای شول چې د نړۍ مهمې ورزشي لوبې د اتلوالی جام، د لوبوراپورتاژونه او تورنمنتونه دمارس دستګاه له لارې ثبت او ليدونکو ته يې وړاندې کړي.

دې اداري په لنډ وخت کې وکړای شول يو څلويښت هنري فلمونه او دولس سريالونه او يوسلو اووه ويشت کارتوني فلمونه خپرېدو ته برابر او د تلويزيون سينمايي خپرونې ته يې ورکړي.

دې تلويزيون د نړيوالې خپرونې لوی مديريت د مارس دستګاه په مرسته وکړای شول چې دنړۍ د مختلفو هېوادونو په هکله مستند فلمونه، د نړۍ د مختلفو هېوادونو کنسرتونه ثبت او خپاره کړي.

د سينمايي کلوپ سفر او د حيواناتو نړۍ خپرونې چې د مسکو تلو يزيون له مهمو خپرونو څخه وې د دې اداري په مرسته به د مارس له دستګاه څخه ثبت بيا به خپرونې ته تيارېدې.

خو کله چې د پخواني شوروي اتحاد په مرسته د مارس دستګاه پر ځای د شمشاد دستګاه نصب شوه، د دې اداري په کارونو کې لا زياتوالي راغی د دې دستګاه په واسطه له بهر څخه افغانستان او له افغانستان څخه بهر او د افغانستان د ولايتونو تلويزيونونو ته پروګرامونه لېږل کېدل، د دې دستګاه په هکله به وروسته بحث وکړو.

۶: د ارت او ګرافيک عمومي مديريت:

دې اداري د تلويزيون له پيل څخه پر کار پيل وکړ او دري مديريتونه يې درلودل:

۱: د ديکور مديريت

۲: د ګرافيک مديريت

۳: د مکياژ مديريت

د ديکور مديريت: په دې مديريت کې مسلکي کسانولکه نجارانو، خياطانو، رنګمالانو او انځورګرانو او د ديکوريشن کارپوهانو کارکاوه. د دوی دنده د پروګرام د دايرکتر سره تر مشورې وروسته د ديکور جوړول وو. دوی به د مختلفو هنري، تربيوي او معلوماتي خپرونو لپاره ديکورونه جوړول چې ځينو يې زيات مالي لګښت درلود.

د ګرافيک په مديريت کې به د پروګرامونو دارتيا وړ کپشنونه او اوپک د خطاطانو او رسامانو له خوا تهيه کېدل او د مکياژ په مديريت کې به د تلويزيون تمثيلي پارچو او نمايشنامو د ممثيلينو مکياژبه د دې اداري له خوا تر سره کېده. د هنرمندانو لپاره يې افغاني کالي درلودل چې کولای يې شول د موسيقي د ثبت په وخت کې تر کار واخلي. همدرانګه د تلويزيون د نطاقانو دارتيا وړ کالي يې درلودل چې نطاقانو او هر هغه چا چې د تلويزيون په خپرونه کې برخه اخيسته کولای شول چې د ارتيا په وخت کې تر کار واخلي.

همدرانګه د ښځينه نطاقانو او هنر مندانو لپاره په همدې مديريت کې ارايشګاه موجوده وه چې د دوی ارايش به يې کاوه. د دې ارايشګاه

مسوولیت د ټلویزیون له پیل څخه مریم صدیقي په غاړه درلود، ماري جان، حبیبه جان، سهیلا نجوا اوفضیله جان د ښځینه هنرمندانو او نطاقانو د ارایش چاري ترسره کولې.

د دې اداري لوی مدیر د زیات وخت لپار نبي الله هنرمل و چې د عالي ذوق څښتن و.

۷: د انسجام او ارزیابي لوی مدیریت:

دې مدیریت د ټلویزیون دخپرونولە پیل څخه پر فعالیت پیل وکړ. د دې اداري دنده د ټلویزیون د خپرونو د پلان برابرول او د خپرونو ارزیابي وه او دوه مدیریتونه یې درلودل:

۱: د تداوم او ارزیابی مدیریت.

۲: د پلان مدیریت.

د تداوم او ارزیابی مدیریت دنده د ټلویزیون دټولو خپرونو چک او ارزیابي وه، په دې اداره کې لایقو او په ټلویزیوني خپرونو کې د نظر خاوندانو دایرکترانو او پرودیوسرانو کار کاوه.

د پلان مدیریت به په ستدیو او سیار یونټ کې د پروګرامونو د ثبت، ادیت او د کاپي کولو وخت د ټلویزیون مختلفو پرګرامو لپاره تنظیماوه پردیوسرانو به دپلان سره سم په ستدیو کې کار کاوه.

د دې لوی مدیریت مدیران په ترتیب سره د داکتر نجیب الله د حکومت تر سقوط پورې په لاندې ډول وو.

سید عزیز ایشانزده، محمد شریف جمیلي او عبدالوکیل بیان.

۸: د ټلویزیون د موسیقی مدیریت:

دې مدیریت د ټلویزیوني خپرونو په پیل کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نشراتي معینیت تر نظر لاندې په کار پیل وکړ، په لومړیو وختونو کې د موسیقی پروګرامونه په غیر منظم ډول خپرېدل خو وروسته د نومورې مدیریت په پیل سره د موسیقی خپرونې تنظیم شوي.

د سندرو ثبت اوکاپي د دې مدیریت له خوا سرته رسېده. دې اداري د ټلویزیون د نورو ادارو ددایرکترانو په مرسته وکولای شول چې په لږ موده کې د سندرو ښکلې پارچې، کنسرتونه ثبت او لیدونکو ته وړاندې کړي. خو وروسته دې مدیریت خپله تکړه دایرکتران درلودل چې د موسیقۍ ډېرې ښکلې پارچې یې ثبت او لیدونکو ته وړاندې کړي.

د موسیقۍ د لوی مدیریت له خوا د موسیقۍ دا پروګرامونه خپرونې ته تیارېدل.

د انتخابي سندرو خپرونه، کلیوالي سندري، کلاسیکه موسیقي، نوای کهسار، تکنوازي، نوي اهنګونه، د دېرې مجلس، او د موسیقۍ نورې خپرونې د دې اداري له خوا د لیدونکو لپاره ثبت او خپرېدې. سربېره پردې د موسیقۍ مدیریت تر پښتو او دري خبرونو وروسته د وطني ملي سندرو او د خپرونو په منځ کې د خلایا تشې د ډکولو لپاره د موسیقۍ پارچو تیارولو دنده درلوده. د موسیقۍ ښکلې پارچې سربېره پردې چې د ټلویزیون په ستدیو کې په ښکلي دیکور کې د تکړه دایرکترانو له خوا ثبت شوې.

یو زیات شمېر کنسرتونه، سندري د ټلویزیون د سیارو یونټونو په واسطه د کابل په پغمان، قرغه، باغ بالا، عسکري کلوپ، د کابل هوټل او د بهرنیو چارو وزارت په انګړ کې هم ثبت شوې چې د لیدونکو د زیاتې پاملرنې وړ ګرځېدلې دي.

د نوموړې اداري مدیران حاجي سید داود احمدزی، مرحوم نثار علي فریاد، سیما شادان، میر حیدر او وروستی مدیر یې عزیز غزنوي و.

د نطاقانو عمومي مديريت

دا مديريت درادیو او ټلویزیون دواړو لپاره و، خو د تشکیل لـه پلوه يې په رادیو افغانستان پورې اړه درلـوده په دې اداره کې دوه ډولـه نطاقـان وو. یو هغه ویناداں وو چې په رسمي ډول يې په همدي اداره کې کار کاوه. بل هغه وو چې د ببلا ببلو موسسو څخه به راتلل او د قراردادي په ډول يې کـار کاوه.

خو سره لـه دې هم درادیو او ټلویزیون کې د مختلفو خپرونـو نطاقـان معلوم وو. د هرې خپرونې روحیه به په نظر کې نیـول کېده، د خپرونې مطا بق به نطاق ورته غوره کېده. خو د ټلویزیون ځینو خپرونو ځانګړو نطاقان درلودل چې یوازې يې په ټلویزیون کې د نطاقی دنده درلوده.

۹: د ټلویزیون د اعلاناتو اداره:

دې اداري په رادیو او ټلویزیون کې د اعلانونو د خپرېدو دنده درلوده. د ټلویزیوني خپرونو په پیل کې د رادیو اوټلویزیون د اعلاناتو یو مدیریت و، چې د تشکیل لـه پلوه يې په رادیو افغانستان پورې اړه لرلـه، خـــــو په

۱۳۵۸ لمريز کال د لړم په مياشت کې د ټلويزيون د اعلاناتو مديريت په ځانګړي توګه د ټلويزيون د نشراتو رياست په چوکاټ کې په کار پيل وکړ. په ۱۳۵۹ کال کې يو سلو يوولس اعلانونه په مختلفو وختونو کې څو ځلي خپاره شول چې مجموعاً ۵۲۳۱۴۰ افغانۍ تر لاسه شوي په منځنۍ ډول په همدې اندازه اعلانونه ددولتي چارواکو په امر وړيا خپاره شول.

د ۱۳۶۰ لمريز کال په لومړيو نهو مياشتو کې په مجموعي ډول ۱۴۹ اعلانونه د (۶۲۹۷۹۲) افغانيو په ارزښت د ټلويزيون څخه خپاره شول تقريبا په همدې اندازه اعلانونه ددولتي چارواکو په امر وړيا هم خپاره شوي دي.

۱۰: د ارشيف مديريت:

د ټلويزيون له پيل څخه دارشيف مديريت د ټلويزيون د خپرونو په رياست کې رامنځ ته شو چې وروسته يې زياته پراختيا وموندله.

د ويديو ټيپونه، ويديو کستونه، فلمونه، سلايدونه، عکسونه، د ټلويزيوني خپرونو سکرپټونو او متنونو ساتل دارشيف له وظايفو څخه و. په ارشيف کې په ذکر شوو موادو سربېره د افغانستان د ټولو رهبرانو وينا وي، مهمې غونډې او داسې نورسا تل کېدل. د دې اداري مدير بنا غلي سردار حسيب و چې دارشيف په کارونو کې بلد او خورا ماهر سړی و.

د هنر او ادبياتو لوی مديريت

د ټلويزيون د خپرونو په پيل کې دې مديريت د نندارليکونو (نمايشنامو) د مديريت په نامه فعاليت کاوه.

خو ۱۳۵۹ لمريز کال په پيل کې دا مديريت د ټلويزيون د هنر او ادبياتو په نوم ونومول شو.

د دې اداري له خوا دا لاندينۍ خپروني پروديوس، دايرکټ او خپرونې ته چمتو کېدې.

۱: نمايشي خپرونې.

۲: ادبي خپرونې.

اول: نمايشي خپرونې: داخپرونې د ټلويزيوني نندارې په چوکاټ کې تر دې عنوان لاندې خپرېدې چې زياتره تفريحي او کميدي وې.

د ټلويزيون دخپرونوپه پيل کې ځينې خپرونې له هغې ډلې ټلويزيوني نندارې په مستقيم ډول له ټلويزيون څخه خپرېده خو وروسته به اول ثبت او بيا به خپرېده.

ټلويزيوني نندارې په دوه ډوله وړاندې کېده، اول هغه خپرونې چې نندارچيانو په کې ګډون درلود.

دويم هغه خپرونې چې پرته دنندارچيانو له شتوالي تهيه کېدې.

لومړي ډول خپرونې د ټلويزيون په سټديو کې د دوو تنو انانسرانو له خوا چې په هغو کې موسيقي او نندارليکونه (نمايشنامې) وې تر ثبت وروسته به خپرېدې، لکه کاروان حله اوځينې نورې خپرونې چې پرته له

نندارچيانو څخه به د ټلويزيون په ستديو کې ثبت او بيا به له ټلويزيون څخه خپرېدې.

خو ځينې خپرونې چې په ملي ورځو لکه اختر، د کال لومړۍ ورځې په مناسبت به د نندارچيانو په ګډون چې زيات مالي لګښت به هم پرې کېده تهيه کېدې، لکه د تماشا خپرونه او ځينې نورې.

دويم- ادبي خپرونې:

الف: تلويزيوني مجله:

دا خپرونه د دې اداري له پخوانيو او قوي خپرونو څخه وه. په دې خپرونه کې به د تياتر، سينما، د فلم نقد او د نړۍ د هنر، ادبياتو، موسيقي او نورو مسايلو په هکله څېړنيز مطالب وو.

د دې خپرونې ژبه ډېره لوړه او ادبي وه، چې په پښتو او دري ژبه به د دوو نطاقانو له خوا اجرا کېده. دا خپرونه په هرو پنځلس ورځو کې يو ځل ديوساعت لپاره په پښتو اودري ژبه خپرېده. د دې خپرونې ليکوالان عبدالله شادان، مختار ژوبين، منير هويدا، عزيز اسوده، زرين انځور، نجيب ساکب، آصف معروف، سرور انوري او ځينې نور وو.

ب: مشعلداران هنر:

دا خپرونه په پښتو او دري ژبو په جلا ډول تهيه کېده يانې يوه مياشت به په دري او بله مياشت به په پښتو ژبه خپرېده. په دې خپرونه کې به د نړۍ د فرهنګ يا د هېواد ديوه تکړه او وتلي ادبي او هنري څېړې ژوند او اثار معرفي او څېړل کېدل او هره مياشت يو ځل د يوه ساعت لپاره خپرېده. د نومورې خپرونې ليکوالان رفيق يحيايي، امين افغانپور، نصر الله حافظ، زرين انځور، لطيف ناظمي، سرور انوري او عزيز اسوده وو.

ج: هفت شهر هنر: دا پنځلس ورځنۍ خپرونه وه چې يو ځل په پښتو او بل ځل به په دري ژبه خپرېده. په دې خپرونه کې به د افغانستان يو هنري او ادبي شخصيت برخه اخيسته. د دوی پر هنر او آثارو به بحث کېده.

کله کله به د دوی پر شخصي ژوند هم خبري کېدې او يا به کله چې دا ډول خلك مړه شول د دوی دژوند او ادبي فعاليتونه په اړه به په دې خپرونه کې بحث او خبرې کېدې.

ج: د خلکو فرهنګ:

په دې خپرونه کې چې په مياشت کې يو ځل ديوه ساعت لپاره په پښتو اودري ژبه جوړېده د هېواد د فرهنګي مسايلو په هکله لکه رواجونه، عنعنات، لاسي صنايع، او ځينې نور کسبونه او ځينې وخت به په همدې هکله مرکې خپرېدې.

د: غوره پوښتنې يا پاسخ چيست:

دا يوه ادبي خپرونه وه، په دې خپرونه کې به له ګډون کوونکو څخه دادبي مسايلو په هکله پوښتنې کېدې. کله به يې چې ځواب درست و جايزه به هم ورکول کېده، دا خپرونه په مياشت کې يو ځل د يوه ساعت لپاره په پښتو اودري ژبه خپرېده.

هـ: شب شعر:

دا خپرونه لکه دغوره پوښتنو په څېر وه او نندارچيانو په کې برخه اخيسته. دپښتو او دري ژبو شاعرانو به په کې ګډون کاوه او خپل شعرونه به يې د دې خپرونې له لارې خپلو مينه والو ته وړاندې کول.

و: شب قصه:

په دې خپرونه کې به داستان ليکونکو برخه اخيسته او نندارچيانو ته به يې خپل داستان وايه. په مياشت کې به يو ځل شب شعر او بل ځل شب قصه خپرونه دپنځلس دقيقو لپاره خپرېده.

ز: کتاب:

په دې خپرونه کې دپښتو اودري ژبو پر نويو چاپ شوو کتابونو بحث او خبري کېدې چې کله به په مياشت او کله به په پنځلس ورځو کې خپرېده. دا خپرونه په لومړي سر کې د برګها په نامه خپرېده چې وروسته د کتاب دريچه بسوی جهان په نامه خپرېده.

ط: چراغ:

په دې خپرونه کې به تصوفي، عرفاني، حمد اود اسې نور مسايل په مذهبي ورځو کې خپرېدل.

ی: سپیده:

په دې خپرونه کې به هغه شعرونه چې وطني او حماسي وو د خاصو مناسبتونو په هکله خپرېدل.

د دې اداري مسؤليت د زيات وخت لپاره چې راديو اوتلويزيون دواړو ته يې کار کاوه د فريدې انوري پر غاړه و، وروسته دا عمومي مديريت په ۱۳۶۲ لمريز کال کې رياست ته لوړ شو، چې په هغه کې د تلويزيون، راډيو او نمايشنامو عمومي مديريتونو فعاليت کاوه.

د دې رياست رئيسان په ترتيب سره د طالبانو د امارت تر راتلو پورې هارون يوسفي، سرور انوري اونجيب الله سا کب وو.

د راديو د هنر او ادبياتو د عمومي مديريت مديران په ترتيب سره سرور انوري، مرحوم سيد جان ملال، وحيد صمدزی، محمد افسر رهبين، تاج محمد ياری او نصرالله پرتو نادري وو او د تلويزيون د هنر او ادبياتو د عمومي مديريت دنده د مختارعلي ژوبين، محمد عزيز اسوده، سرورانوري، محمد يوسف هېواد دوست او عايشه جلالي پر غاړه وه.

همدارنګه د تلويزيون او راديو د نمايشنامو د عمومي مديريت دنده په دواړو برخو کې دوحيد صمدزي، قدير جهانبين، کبير عبادي، او شاه محمد نوران پر غاړه وه.

همدارنګه د نوموړې اداري له خوا د تلويزيوني تياتر په نامه مياشتنۍ خپرونه خپرېده چې زيات مالي لګښت يې درلود او تکړه لوبغاړيو په کې کار کاوه. لکه استاد رفيق صادق، استاد بېسد، استاد ف. فضلي. عبدالرشيد پايا، حاجي محمد کامران، ف. عبادي، قادر فرخ، جان محمد پلار، ستورې منګل، زليخان فخري، زرډ هوه او نور....

د ټلويزيون د نظامي خپرونو رياست

لکه څنګه چې پخوا وويل شول د ټلويزيون د خپرونو په پيل کې څارندوی د خلکو په خدمت کې او د انقلاب ساتونکي دوه خپرونې د روزنې اداري په چوکاټ کې فعاليت کاوه او هره اوونۍ به هره خپرونه د ۱۵ دقيقو لپاره په پښتو او دري ژبه خپريدو لپاره برابرېده خوکله چې د ۱۳۵۸ لمريز د جدي يا مرغومي د مياشتې پر شپږمه نېټه د پخواني شوروي اتحاد سرو لښکرو پر افغانستان يرغل وکړ او افغانستان يې اشغال کړ، نو د روسانو پر ضد د افغانانو ملي پاڅون پيل شو او جګړو شدت پيدا کړ، نو حکومت پرېکړه وکړه، چې د نظامي تبليغاتو په خاطر منظم کار پيل کړي. په دې لړ کې د افغانستان په ټلويزيون کې د نظامي خپرونو په نوم لومړی مديريت او وروسته رياست جوړ شو. په دې رياست کې درادیو او ټلويزيون هغو پروديوسرانو او دايرکترانو کار کاوه، چې نظامي خدمت ته جلب شوي وو په حقيقت کې پروديوسرانو او دايرکترانو د عسکرۍ د مکلفيت دوره په همدې رياست کې تېروله.

د دې رياست لومړنی رئيس امان اشکريز و او دري مرستيالان يې درلودل چې يو يې د وخت د استخباراتو يا خاد، بل يې د دفاع وزارت او دريم يې د کورنيو چارو وزارت له خوا دغه رياست ته ورپېژندل شوي وو،

هر یوه یې د خپل وزارت مربوط خبرونه او نظامي فعالیتونه څارل او هغه به یې د خبر، راپورتاژ او خپرونې په څیر خپرول دې ریاست د خپل اهمیت له نظره د تلویزیون په ارشیف د کستونو د ساتلو لپاره ځانګړې الماری جوړې کړې وې، چې مبادا کسیټونه یې څوک له ارشیف څخه بهر ته ونه باسي.

د نوموړي ریاست کارکوونکو به د افغانستان ببلا ببلو ولایتونو او هغو سیمو ته چې روسانو او د افغانستان اردوبه د مجاهدینو پر ضد نظامي عملیات کول سفرونه کول او د پېښنو خبرونه او راپورتاژونه به یې تهیه کول، بیا به یې د تلویزیون له لارې خپرول، د ریاست په دریو نظامي برخو کې فعالیت کاوه.

۱: دملي دفاع وزارت یا اردو
۲: څارندوی یا پولیس
۳: ملي امنیت یا خاد

د نظامي خپرونو مدیریت په افغانستان کې دنظامي پیښنو په زیاتوالي وده وکړه او نومورې مدیریت ته لوړ شو او د لوی تشکیل خاوند شو، چې له همدې دریو نظامي برخو څخه یې دري مرستیالان درلودل او دا لاندې خپرونې د دې ریاست له خوا تهیه کېدې.

۱: د ملي دفاع وزارت یا اردو خپرونې

په افغانستان کې دتولو نظامي فعالیتونو پر انعکاس سربېره چې د خبر یا راپورتاژاو یا هم د مستند فلم په ډول یې برابرول، دا خپرونې هم درلودي

۱: زه د افغانستان لپاره خدمت کوم:

په دې خپرونه کې به په ځانګړې توګه د یوې عسکري قطعې او یا د نظامي کنډک روزنیز فعالیتونه په ګوته کېدل.

۲: *زندګي سرباز:* په دې خپرونه کې به په عمومي توګه د دريو واړو نظامي برخو دسرتېرو د اعاشې اواباطې او د دوی د تفريحي اوهنري ژوند په هکله مطالب خپرېدل.

۳: *مبارزان خبرې کوي:* نوموړې خپرونه د دفاع وزارت له ځانګړو خپرونو څخه وه چې داردو د مختلفو صنفونو دکړنو او نظامي فعاليتونو په هکله يې خپرونې کولې. په دې خپرونه کې د باتجربه نظاميانو له خوا په عملي توګه داردو صنفونه معرفي کېدل او له هېواد څخه د دفاع په اړه په کې مطالب خپرېدل. دا خپرونه د خپل اهميت له کبله د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند د مرکزي کميټې د سياسي بيرو له خوا څارل کېده، چې په اوونۍ کې يو ځل د نيم ساعت لپاره خپرېده.

دويم: د څارندوی د برخې خپرونې:

د څارندوی په برخه پورې تړلې خپرونې:

د دې برخې کار کوونکو په څارندوی يا پوليسو پورې اړوند فعاليتونه خپرول اودا لاندې خپرونې يې درلودې:

۱: *څارندوی د ټولنې خدمتګار:*

په دې خپرونه کې د افغانستان د مرکز او ولايتونو د پوليسو د قوماندانيو، حوزو او دپوليسو دامنيتي پوستو فعاليتونه دامنيت په هکله مسايل خپرېدل، سربېره پردې څارندوی د ټولنې خدمتګار په خپرونه کې په ښارونو کې ترافيکي فعاليتونه هم خپرېدل.

۲: *زندګي سرباز:*

په دې خپرونه کې لکه داردو دخپرونې په څېر دڅارندوی د منسو بينو روزنيز،هنري او فرهنګي فعاليتونه او دڅارندويانو يا پوليسو د اعاشې او اباطې او د دوی د رسمي ژوند په هکله مطالب خپرېدل.

۳: مستند راپورتاژونه:

لکه څنګه چې دمخه وویل شول چې دروسانو په راتګ سره په افغانستان کې دخلکو مقاومت زیات شو او د افغانستان په هر ګوټ کې جګړه وه نو د دې لپاره چې حکومت خپل بر لاسي وښیي د جګړو له ډګر څخه به یې راپورتاژونه برابرول او هغه به یې په مستند ډول له ټلویزیون څخه خپرول، چې یو له دغه مستندو خپرونو څخه د څارندویانو مستند راپورتاژونه وو.

د امنيت ياد خاد د برخې خپرونې

د امنيت په برخه کې به اکثراً د هغو خلکو مرکې خپرېدې چې د امنيتي چارواکو له خوا به د جګړې په ډګر کې نيول شوي وو او يا د سياسي ګوندونو غړي اويا هغه خلك چې دوی به پرې شکمن وو هغه به يې نيول بيا به يې په خاد کې پرې اعتراف کاوه. د هغوی اعترافات به د دې خپرونې له لارې خپرېدل او يا د مجاهدينو هغه قوماندانان چې له دولت سره به يو ځای شول له هغوی سره به يې مرکې کولې. د دې کار لپاره خپله امنيت يو کوچنی ستديو جوړه کړې وه او کمرې يې هم درلودې.

سربېره پردې د "جنګ افروزان آتش افروز" په نامه يې خپرونه درلوده اودا خپرونه دخپل اهميت له کبله د افغانستان دخلق دموکراتيك ګوند دمرکزي کميتې د سياسي بيرو له خوا ځارل کېده.

په دې خپرونه کې د رژيم له نظره د مخالفينو هغه منفي سياسي او نظامي اړخونه څېړل کېدل چې په پته په هېواد کې دننه ترسره کېدل.

سربېره پر دې د "کلوپ دوستداران انقلاب" خپرونه به په اوونۍ کې يو ځل د ځارندوی بله اوونۍ به د امنيت يا خاد او درېيمه اوونۍ به د اردو له خوا د يوه ساعت لپاره تهيه کېده، په دې خپرونې کې به ځوانو افسرانو او کله کله به د حربي پوهنتون يا حربي ښوونځي محصلينو او زده کوونکو

ګډون کاوه. معمولاً د نظامي مسايلو په هکله به په کې بحث او خبرې کېدې. همدارنګه په دې خپرونه کې به داردو یا څارندوی او یا هم د امنیت هنري ډلو برخه اخیسته، د موسیقۍ کنسرت به هم په کې خپرېده. دا د دې لپاره چې په دې خپرونو کې زیات نظامي تبلیغات کېدل دا چې لیدونکو مینه نه ورسره لرله نو د دې لپاره دوی خپلو خپرونوته تفریحي او هنري رنګ ورکړ، چې لیدونکي هغه وګوري.

د ریاست د دې کارونو په څنګ کې د ديني علماوو، ملایانو هغه غونډې چې د حکومت له خوا به دایریدې او د حکومت په ګټه به یې پرېکړې کولې د نوموړي ریاست له خوا به ثبت او بیا به په فوق العاده ډول خپرېدې. مقصد دا چې اصلي پروګرام به له خپرونې څخه پاتې کېده او پر ځای به یې د نوموړي ریاست له خوا جوړه شوې خپرونه چې ملایانو او ديني علماوو به د حکومت په ګټه خبرې کړې وې خپرېدې. خو اکثره به د اسلامي شوونو وزارت ملایان وو چې د حکومت له خوا ورته معاش ورکول کېده او د رژیم په ګټه به یې په جوماتونو کې تبلیغ کاوه.

سربیره پردې د تلویزیون د نظامي خپرونو ریاست د دولتي امنیت یا خاد په ریاست کې ځانګړې کوچنۍ تلویزیوني ستدیو درلوده چې په هغه کې کمره، لایت او د ثبت لپاره ویدیو کست موجود وو.

په دې ستدیو کې به د رژیم د سیاسي مخالفینو او یا د هغو خلکو مرکې ثبت کېدې چې د دوی له خوا به په جګړو او یا هم له خپلو کورونو څخه نیول شوي وو. یو شمېر به یې د شکنجې په وخت کې مړه شول او پاتې کسانو سره به په همدې ستدیو کې مرکې ثبتېدې او بیا به د تلویزیون له لارې خپرېدې.

د تعليمي او تربيتي ټلويزيون رياست

د افغانستان د خپرونو د رياست تر څنګ د ټلويزيون تعليمي رياست د ټلويزيون له ستديوګانو څخه په ګټه اخيستنې سره يې ځينې ښوونيزې خپرونې تهيه کولې.

نوموړي رياست د ټلويزيون دخپرونو له پيل څخه د ۱۳۶۰ لمريز کال تر پايه پورې وکړای شول چې چې ۱۳۶ ښوونيزه او ۳۶ دروغتيا يې خپرونې د ټلويزيون له لارې خپرې کړي.

دې رياست د ښوونې روزنې وزارت په چوکاټ کې فعاليت کاوه چې زياته بودجه يې ديونسکو له خوا ورکول کېده، دوی به خپلې خپرونې د نشراتو رياست سره په تفاهم کې برابرولې اوبيا به د ټلويزيون له لارې خپريدې. دا هغه ښوونيزې او روغتيايي خپرونې وې چې هره اوونۍ په منظم ډول خپرېدې او زيات مينه وال يې درلودل.

د ولایتونو ټلویزیون ریاست

روسانو د ۱۳۵۹ کال په پسرلي کې د ټلویزیون د سټدیو تر څنګ د مارس په نامه یوه دستګاه نصب کړه. د دې دستګاه په نصبولو سره د پخواني شوروي اتحاد ټلویزیوني خپرونو د کابل ټلویزیون او کورنیو ته لاره پیدا کړه اوهغه خبرونه به یې د دې دستګاه له لارې تر لاسه کېدل چې د سوسیالیستي کمپ له خوا به تهیه کېدل، وروسته به په پښتو او دري ژبو ترجمه کېدل چې په دې لحاظ دټلویزیون خبرونه تصویري شول.

وروسته تر څه مودې د ۱۳۶۰ لمریز کال په اخر کې دمارس دستګاه پر ځای د (لوتوس) یعنې د شمشاد په نوم دستګاه نصب شوه، د دې دستګاه د خصوصیاتو په هکله به وروسته خبرې کوو.

د روسانو پلان دا و چې د همدې دستګاه په مرسته د خپلو ټلویزیوني خپرونو ساحه د افغانستان په مرکز او ولایتونو کې پراخه کړي. خلکو کولای شول چې د عادي انتونو په واسطه چې د بامونو په سر یې درولي وو د شوروي اتحاد ټلویزیوني خپرونې وګوري.

روسانو وروسته تر دې د ټلویزیون د پراختیا پروګرام د افغانستان د خلکوپه نوم پیل کړ د ټلویزیون د لیږلو او اخیستو کوچنۍ دستګاوې یې د سلو کیلو واټو په ظرفیت چې د پنځویشتو کیلو مترو څخه یې تر دیرشو

کیلو مترو پورې خپرونې کولای شوې د لومړي ځل لپاره په هغه ولایتونو کې چې ګاونډیو هېوادونو د خپرونو تر اثر لاندې وو او د روسانو پر ضد یې خپرونې کولې د جوړیدو پلان جوړ کړ.

نو همغه و چې پر ۱۳۶۲ لمریز کال د ټلویزیون دولایاتو خپرونو ریاست درادیو ټلویزیون دعمومي ریاست په چوکاټ کې جوړ شو. په لومړي سر کې د افغانستان په لاندې ولایتونوکې چې اکثره سرحدي وو تلویزیون په خپرونو پیل وکړ.

۱: په کندهار ولایت د۱۲۶۳ لمریز کال د تلې پر ۳۰ نېټه.

۲: په هرات ولایت کې د۱۳۶۳ لمریز کال د لیندۍ پر ۹ نېټه.

۳: په ننګرهار ولایت کې یې د جدي (مرغومي) پر ۱۳ نیټه.

۴: په غزني ولایت کې د۱۳۶۳ لمریز کال د دلوې (سلواغې) پر ۱۴ نېټه.

۵: په فراه ولایت کې د۱۳۶۴ لمریز کال د حمل پر ۲۴ نېټه.

۶: په خوست ولایت د۱۳۶۴ لمریز کال دحمل پر ۲۵ نېټه.

۷: په بدخشان ولایت کې د۱۳۶۴المریز کال د جوزا پر ۳۰ نېټه جوړ شول.

د ولایتونو د ټلویزیون د پروګرامونود ادیت او کاپي لپاره د ټلویزیون په مرکز د کنفرانس په خونه کې د کاپۍ لپاره ویدو ټیپ ریکاردر او ویدیو کست نصب شول. په دې تخنیکي وسایلو به د ټلویزیون پروګرامونه، سندرې او فلمونه کاپي کېدل بیا به د هوایې او ځمکني ترانسپورت له لارې د افغانستان مختلفو ولایتونوته لیږل کېدل.

همدرانګه په ولایتونوکې هم دثبت اوکاپي لپاره جلا تخنیکي وسایل موجود وو، له سیمې څخه به راپورتاژونه او داسې نور هغه مواد چې په ولایتونو کې راټولیدل ددې تخنیکي وسایلو په واسطه به اډیت او بیا به نشر ته برابرېدل.

په لومړي سر کې د ننګرهار، پکتیا، کندهار، خوست، هرات، نیمروز، هلمند او یو څه موده وروسته د بلخ، جوزجان، سمنګان، فاریاب، بدخشان، کندوز، بغلان، پلخمري او پروان په ولایتونو کې د ټلویزیون

دستګاه وي نصب شوې لکه څنګه چې مخ ته وويل شول د ټلويزيون خپرونو يو په بل پسې لومړی په سرحدي ولايتونوکې پيل شوې د دې دستګاه برق حرارتي و چې د جنريتورونو په واسطه يې د څو ټاکلو ساعتونو لپاره فعاليت کاوه.

په ولايتونو کې ټلويزيون له دريو څخه تر پنځو ساعتونو پورې خپرونې کولې، له دې خپرونو څخه به هره ورځ درې ساعته خپرونې له کابل ټلويزيون څخه د شمشاد د دستګاه په واسطه ټولو ولايتونوته دشپې له خوا لکه خبري سرويس، تبصره، راپورتاژونه، د دولتي مشرانو ويناوې، ريلي کېدې تر ثبت وروسته به بيا په بله شپه خپرېدې.

موسيقي، تفريحي خپرونې، هنري فلمونه، سريالونه، علمي او ذوقي خپرونې به د هوايي يا ځمکني تراسپورت په واسطه ټولو ولايتونو ته لېږل کېدې. د ولايتونو د ټلويزيون کار کوونکو به له دې موادو څخه خپلې خپرونې جوړولې.

د بېلګې په توګه دشمشاد دستګاه به تر نيمې شپې وروسته ولايتونو ته دا لاندې مواد ريلي کول، چې زه دلته د بېلګې په توګه د يوې شپې ريلي شوې خپرونې تاسوته وړاندې کوم:

کالر بال دوه دقيقې
ارم دري دقيقې
کرنه او مالداري ۲۵ دقيقې
د ماشومانو نړۍ ۲۵ دقيقې
کارتوني فلم ۱۰ دقيقې
پښتو خبرونه ۱۵ دقيقې
تبصره ۵ دقيقې
مرکه ۱۰ دقيقې
دري خبرونه ۱۵ دقيقې
تبصره ۵ دقيقې
وطني سندره ۵ دقيقې
راپورتاژ يا مستند فلم

شب شعر، يا ذهني ازموينه يا کاروان حله

دا مواد به په سيمه ييزه ټلويزيونو نو کې د خپرونې له پلان سره سم په دې ډول تهيه کېدل

د مابنام ۵۵-۵ کالربال ۵ دقيقې

۶ بجې دخپرونې معرفي

۳-۶ دسيمه ييزه ټلويزيون له ارشيف څخه دقرانکريم تلاوت ۳ دقيقې

۱۰-۶ نعت شريف ۵ دقيقې

۱۵-۶ کرنه او مالداري ۲۵ دقيقې

۴۰-۶ دماشومانو نړۍ ۲۰ دقيقې

۷ بجې پښتو خبرونه ۱۵ دقيقې

۱۵- ۷ تبصره ۵ دقيقې

۲۰- ۷ مرکه ۱۰ دقيقې

۳۰ _ ۷ غوره سندرې ۳۰ دقيقې

۸ بجې دري خبرونه ۱۵ دقيقې

۱۵ _ ۸ تبصره ۵ دقيقې

۲۰- ۸ وطني سندره ۵ دقيقې

۲۵- ۸ راپورتاژ ۳۰ دقيقې

۵۵- ۸ له ارشيف څخه سيمه ييزه سندره ۵ دقيقې

۹ بجې ذهني ازموينه ۴۰ دقيقې

۳۰_۹ سريال ۳۰ دقيقې

۱۹- ۱۰ د خپرونې پای

خو کله چې په شوروي اتحادکې ګرباچف قدرت ته ورسېد او دپروسترايکا پاليسي يې اعلان کړه له افغانستان څخه يې دشمشاد دهر ساعت په مقا بل کې دزرو ډالرو غوښتنه وکړه خو د افغانستان دولت د دې توان نه درلود چې د هر ساعت په مقابل زر ډالره ورکړي په نتيجه کې يې پرېکړه وکړه چې يوازې خبرونه، تبصري او د حکومتي مقاماتو ويناوې د شمشاد په واسطه ولايتونو ته ريلي کړي.

دا پېښې د ولایتو نو ټلویزیون ته سخت ګوزار و، ځکه چې دوی نه شو کولای چې په خپله پروګرامونه جوړ کړي او د هوا او ځمکې له لارې د جګړو له امله د کستونو لېږل له ستونزو سره مخامخ وو.

لنډه داچې وروسته له دې په ولایتونوکې د ټلویزیون خپرونې له زیاتو ستونزو سره مخامخ شوې.

بلخوا د نجیب الله دولت د افغانستان په شمال کې له ستونزو سره مخامخ شو او د لومړي ځل لپاره د جمهور رئیس نجیب الله بیانیه چې ۱۳۷۰ کال د حوت پر ۲۸مه د نوي کال په مناسبت د شمشاد په واسطه ریلي شوې وه، د هغې پر ځای د عبدالرشید دوستم اعلامیه د مزارشریف له ټلویزیون څخه خپره شوه. په اعلامیه کې راغلي وو چې په شمال کې د داکتر نجیب حکومت ختم دی.

وروسته تر اعلامیې د مزارشریف ټلویزیون د جنرال عبدالرشید دوستم د فاریاب ولایت ټلویزیون د رسول پهلوان، د سمنګانو ولایت ټلویزیون د قدوس رحماني او د پلخمري ټلویزیون د سید منصور نادري لاس ته ورغلل او په خپله خوښه یې چې هرڅه زړه و هغه به یې خپرول.

د ۱۳۷۱ لمریز کال د ثور تر اتمې وروسته چې مجاهدینو په کابل کې سیاسي قدرت تر لاسه کړ د شمشاد دستګاه تر دریو میاشتو پورې فعاله وه، وروسته له هغې له فعالیت څخه وغورځېده.

د دې ریاست مسوول نبي پاکتین او مرستیال یې مرحوم ګلاجان رویین وو.

د ټلويزيون تخنيکي معاونيت

د ټلويزيون دخپرونو رياست تر څنګ د خپرونو په ثبت، اړېت او منتاژ کې د ټلويزيون تخنيکي برخې لوی لاس درلود، نو ځکه لازمه ده چې په دې هکله هم معلومات وړاندې شي. د ټلويزيون تخنيکي معاونيت د راديو ټلويزيون د عمومي رياست په چوکاټ کې په لومړي سرکې د ټلويزيون د تخنيکي امريت په نامه په کارپيل وکړ.

د دې اداري مسوولیت د ټلويزيون په پيل کې چې د جوړونې کارونه يې ډېر په تيزۍ سره روان وو د پخواني جمهور رئيس محمد داود زوی انجنير خالد پر غاړه درلوده، مرحوم خالد د غويي په کودتا کې له پلار سره يو ځای په جمهوري ارګ کې شهيد کړل شو.

د ۱۳۶۰ کال څخه وروسته د راديو ټلويزيون د عمومي رياست په چوکاټ کې دا امريت تخنيکي رياست ته لوړ شو، چې مسوولیت يې په ترتيب سره انجنير فروغ، خان محمد، انجنير جمشيدي، انجنير ظاهر توريال او انجنير خيرمحمد په غاړه درلود.

د دې ریاست دنده د تلویزیون د تخنیکي سامان الاتو فعالول، نصبول، د پروګرامونو ثبت، اډیټ، کاپي او د تخنیکي وسایلو ترمیم وو او لاندې څانګې یې درلودې:

۱: د تلویزیون د ګرځنده دستګاوو لوی مدیریت
۲: د تلویزیون د ستدیوګانو لوی مدیریت
۳: د ترمیم لوی مدیریت
۴: د تولید لوی مدیریت
۵: د لایت لوی مدیریت
۶: د ارتباط مدیریت

اول: د تلویزیون دستدیوګانو لوی مدیریت:

د تلویزیوني خپرونو ثبت د دې مدیریت دنده وه اود دې مدیریت په چوکاټ کې دې لاندې مدیریتونو فعالیت کاوه:

۱: د کمرې او تیلي سینې مدیریت
۲: دویم: د ویدیوتایپ ریکاردر مدیریت
۳: د سیستم مدیریت
۴: د تهیې او برینښنا مدیریت
۵: د سوند یا اواز مدیریت
۷: ثبت یا کاپي مدیریت

د پروګرامونو د ثبت لپاره دوه ستدیوګاني موجودې وې، چې یوه یې د پرودکشن (تولید) چې سل مترہ مربع او بله یې د انانسمنت وه، چې پنځوس مترہ مربع مساحت یې درلود. دواړه ستدیوګاني د ماسترکنترول په میز او دوه دوه کمرو مجهزې وې.

د تلویزیون ستدیوګانې په ټولو مدرنو تخنیکي وسایلو مجهزې وې کولای شو چې په لاندې توګه د هغې یادونه وکړو:

الف: وي تي ـ ار (ویدیو تیپریکاردر بوش یو انچ څلور پایې.
ب: وي ـ تي ـ ار (امپکس دوه انچه درې پایې).

ج: وي ـ سي ار (ویدیو کست ریکاردر) دري پر دوو انچو یومتیک څلور پایې.

سربېره پردې د ټلویزیون ستدیو د تیلي سینما ۱۶ ملي متري یوه پایه ماشین او یوه پایه داوپک پروجکترماشین درلود.

د اواز د ثبت لپاره د ټلویزیون په ستدیو کې د مکروفونو مختلف ډولونه چې په مختلفو وختونو کې تر کار اخیستل کېده موجود وو.

په وروستیو کې یوه بله ستدیو د دویم تولید په نا مه د ټلویزیون په دویم پوړ کې جوړه شوه. دا ستدیو کوچنۍ وه، یوازې د مستندو فلمونو د ثبت، ادیت او د ځینو نورو پروګرامونو لپاره تر کار اخیستل کېده. د دې ستدیو په فعالیدو سره د ټلویزیون د پرودکشن یا تولید په ستدیو باندې د کار فشار کم شو.

د ټلویزیون د ستدیوګانو مدیران په ترتیب سره انجنیر حیا، انجنیر حفیظ، انجنیر سالم، انجنیر عبدالرحمن، او غفار ستاري وو.

د تخنیکي پلان لوی مدیر په لومړنیو وختونو کې خواجه لامع او بیا حفیظ الله اسدي وو.

همدرانګه د ویدیو ټایپ ریکاردر مدیر معروف د بریښنا سید مقصود د اواز مدیر غفور اقرار د تیلي سینې او کمرې مدیر فتاح حشام د ثبت او کاپي مدیر سیدنعیم او د سیستم مدیران په ترتیب سره امیر محمد، غني ساپي او بیا نعیم وو.

دویم: د ټلویزیون د ګرځنده دستګاوو لوی مدیریت:

د افغانستان ټلویزیون د ستدیوګانو تر څنګ یوه لویه سیاره دستګاه درلود د هغې نه د ټلویزیون دستدیو په خبر کار اخیستل کېده، دې دستګاه د ټلویزیون دسیار یونټ په عمومي مدیریت کې فعالیت کاوه- کولای شو چې په دریو برخو یې تقسیم کړې.

الف: او بي وان بوش مدیریت

ب: د اېن ـ اي ـ سي NEC (نیون الکتریک کمپني) الکتریک کمپني جاپان.

ج: د خبرونو ټولول اي ـ اين ـ جي ENG

د بوش لويه دستګاه چې د ثبت او خپرولو قدرت يې درلود له دې کبله يې د بوش په نامه شهرت درلود چې دا لويه دستګاه د المان بوش کمپنۍ څخه اخيستل شوې وه دا لويه دستګاه لکه د ستديو په څېر په ټولو مدرنو تخنيکي وسايلو مجهزه وو.

په دې لويه سياره دستګاه کې پنځه کمرې، دوه پايې يو انچ ټايپ ريکاردر موجود و او د مکسر ميز يې مختلف افکتونه درلودل، چې شمېر يې ۱۱۵ وه.

دا سياره لويه دستګاه پر ۱۳۵۸ لمريز کال د ۱,۵ مليونو امريکايي ډالرو په قيمت د المان له فدرالي جمهوريت څخه واخيستل شوه، چې د اړتيا په وخت کې يې کولی شول چې په مستقيم ډول خپرونې وکړي او هم په مستقيم ډول ثبت وکړي.

د دې دستګاه لومړنی مدير انجنير يحيی کوهستانی بيا انجنير امير جان وروسته نورالله سيفي او بيا هم انجنير محمد عمر حليم وو.

د ان ـ يي ـ سي او بي،وان چې دا هم سياره دستګاه وه، د ټلويزيون د خپرونو په پيل کې واخيستل شو، دې دستګا هم دري کمرې درلودې او په مدرنو تخنيکي وسايلو مجهز وه، په لومړي وخت کې د ټلويزيون دا سياره دستګا يوازې يوه پايه دري پر دوه انچه ويديو کست ريکاردر درلود، خو وروسته د اړتيا له مخې په دې دستګاه کې دوه پايي ټيپ ريکاردرونه او يوه پايه ويديوکست ريکاردر نصب شول. د دې دستګاه لومړنی مسوول انجنيرفيض الدين فروغ، بيا انجنير محب او وروستي يې انجنير سبحان وو. دې دستګا ه هم کولای شول چې مستقيمي خپرونې وکړي.

د خبرونودټولولو يا "جمع اوری اخبار" څلرويشت ۲۴ سيارې د سوني کمرې لرلې چې د راپورتاژ، اخبار، مرکې، نمايشنامې او د ځينو ټلويزيوني خپرونو ثبت د دوی پر غاړه و.

خوکله چې وروسته د ټلويزيون تشکيل پراخ شو دتخنيکي رياست په چوکاټ کې هر يو يې ځا نګړی مديريت شو.

دریم: د ترمیم لوی مدیریت:

د ترمیم مدیریت د تلویزیون دتولو تخنیکي وسایلو د ترمیم دنده درلوده، د دې مدیریت کارکوونکو او انجنیرانو هڅه کوله، چې د تلویزیون د کاره لوېدلې پرزې ېېرته فعالې او په کار یې واچوي او ماشین الات نصب کړي.

څلورم: د تولید لوی مدیریت:

د تولید لوی مدیریت د تخنیکي تجهیزاتو له پلوه د خپرونو د تولید دنده پر غاړه وه.

پېنځم: د لایت مدیریت:

د تلویزیون په ستدیوګانو او تر ستدیوګانو بهر په سیارو یونټونوکې د خپرونو د ثبت لپاره د لایت ورکول د دوی مسولیت و.

د لایت مدیریت د ارټیا ور مختلف لایټونه درلودل چې په مختلفو وختونوکې به تړې کار اخیستل کېده.

شپږم: دارتباط مدیریت:

د تلویزیوني خپرونو لېږل او بهر کې له سیارو دستګاو سره د ارتباط تامینول د دې مدیریت دنده وه.

مارس

دثور تر کودتاه وروسته د افغانستان سیاسي، اقتصادي او فرهنګي اړیکي د اروپا او امریکا سره مخ په سړېدو او له سوسیالیستي بلاک سره مخ په زیاتېدو شول.

پخواني شوروي اتحادپه لومړي سرکې په زیات شمېر مستند، تبلیغي فلمونه د مرستې په ډول د افغانستان ټلویزیون ته ورکړل. وروسته دمنظمو تبلیغاتو په خاطر یې دمارس دستګاه نصب کړه. ددې دستګاه په نصبېدو سره د شوروي ټلویزیون د افغانانو کورنیو ته لاره پیدا کړه او هڅه کېده چې د افغانستان اوسېدونکي په خاص ډول د سرحدي سیمو اوسېدونکي چې د ګاونډیو هېوادونو ټلویزیونه یې لیدل اود شوروي پر ضد یې تبلیغات کول د دې دستګاه له لارې داسې خپرونې وکړي، چې د دې تبلیغاتو مخه ونیسي.

دادستګاه پر ۱۹۸۰ کال پر هغه وخت نصب شوه، چې دالمپیا دوه ویشتمې لوبې پیل شوې او د افغانستان خلکو د لومړي ځل لپاره دا لوبې هره ورځ تر پنځو ساعتونو په مستقیم او تر ثبت وروسته نندارە کوله.

د همدې دستګاه په واسطه د ټلویزیون لیدونکود مسکو په سره میدان کې د پخواني شوروي اتحاد د وسله وال پوځ رسم ګذشت او دمې د لومړۍ

ورځې دنړۍ دکارګرانو دپيوستون دورځې مراسم په مستقيم ډول دمارس د دستګاه له لارې په خپلو ټلويزيونونو کې وليدل.

وروسته د افغانستان د خلق ددموکراتيک ګوند دعمومي منشي او د انقلابي شورا رئيس ببرک کارمل دسفر جريان پخواني شوروي اتحاد او بلغاريا ته په مستقيم ډول ددې دستګاه په مرسته د افغانستان له ټلويزيون څخه خپورشو.

همدارنګه د دې دستګاه په واسطه به بهرني خبرونه په مصور ډول ثبت او بيا به د ټلويزيون له لارې خپرېدل.

د همدې دستګا لپاره د نړيوالو پروګرامونو په نوم يوه اداره جوړه شوه، د دې اداري دنده دا وه چې د مارس له دستګاه څخه مختلفې خپرونې ثبت کړي او بيا په مختلفو پروګرامونو کې ترې کار واخلي د دې اداري په هکله پخوا معلومات وړاندې شوي تکرارته يې اړتيا نه شته.

شمشاد (لوتوس)

د افغانستان او دېخواني شوروي اتحاد د دوستۍ د شپيتمې کالیزې په ویاړ شوروي اتحاد دشمشاد دستګاه د افغانستا ن دموکراتیک جمهوریت ته دسوغات په ډول ورکړه.

اود ۱۳۶۰ لمریز کال د حوت یا کب په نهمه نېټه د افغانستان دخلق دموکراتیک ګوند دسیاسي بیرو غړي او د افغانستا ن د وزیرانو شورا رئیس سلطانعلي کشتمند له خوا افتتاح شوه او دمارس دستګاه خپل ځای دشمشاد لوبې دستګاه ته پرېښود.

دا دستګاه چې د پخواني شوروي اتحاد د مخابراتو وزارت له خوا په څه د پاسه د اووه ملیونو روبلو په ارزښت له افغانستان سره بلاعوضه مرسته شوې وه، د افغانستان د دولت له انکشافي بودجې څخه شپږ ملیونه افغانۍ د نوموړې دستګاه په ودانۍ مصرف شوي.

د شمشاد دستګاه په فعالولو سره د تیلفون له دوولسو څخه تر اتیا کانالونه له زیاتو امکاناتو سره، د افغانستان درادیو او تلویزیوني خپرونوخپرول بهرنۍ نړۍ ته او د ځینو بهرنیو هېوادونو د تلویزیوني خپرونو تر لاسه کول د دې دستګاه په واسطه پیل شول.

د شمشاد دستګاه سربېره پردې چې دمارس دستګاه دنده چې له بهر څخه د تلویزیوني خپرونو اخیستل و، فعالیت کاوه، د افغانستان

ددموکراتيک جمهوريت د ټلويزيوني اوراديويي خپرونو لپرل بهرته دهمدې دستګاه له لارې تر سره کېدل.

د شمشاد دستګاه بل توپير د مارس دستګاه سره دا و چې د مارس دستګاه سياره وه خو دشمشاد دستګاه په ثابت ډول جوړه شوه

همدرانګه دشمشاد دستګاه دتخنيک له پلوه د مارس دستګاه ته زياته برتري درلوده د تخنيکي امکاناتوله پلوه ډېره پرمختللې وه. چې د راډيويي او ټلويزيوني خپرونو لپرل د افغانستان څخه بهر ته د همدې دستګاه له لارې سرته رسېدل.

د شمشاد دستګاه دتشکيل له پلوه دمخا براتو په وزارت پورې اړه درلوده. دې دستګاه کولی شول چې هم مخابره وکړي او هم مخابره واخلي البته په ټلويزيوني او راديويي خپرونو سربېره ددې دستګاه څو کانالونه په کابل کې د روس په سفارت د روسانو په سرمشاوريت او نورو مهمو خايونو کې په کار اچول شوي وو.

د ټلويزيون ترانسميتر

د ټلويزيون ترانسميتر د آسمايي غره په لوړه څوکه چې له کابل د سطحې څخه يې دري سوه متره لوړوالی درلود نَصب شو.

داتکان لوړوالي يې شلو مترو ته رسېده دانتن څخه څلورو خواوو ته په مستقيم ډول په تصويري فريکونسي ۲۵، ۱۷۵ ميګا هرس او داواز فريکونسي ۷۵، ۱۸۰ ميګا هرس خپرونې کولې

اواز او تصوير به لومړي دستديو څخه (۲، ۶) ګيکا هرس دستديو دترانسميتر لينك په واسطه به ترانسميتر ته ورکول کېده وروسته به دانتن په واسطه په مستقيم ډول څلورو خواوو ته د ۵۰ څخه تر ۶۰ کيلو مترو پورې په فاصله به خپرونې کېدې.

د خپرونو ساحه په دوو برخو ويشل شوي وه، چې يوه يې آزاده ساحه او بله يې دغير انتشار ساحه وه.

آزاده هغه ساحه وه چې د ټلويزيون د شعاع تصوير او انتن تر منځ موانع نه وي او د نه انتشار ساحه هغې برخې ته ويل کيږي چې د ټلويزيون د نور، د ټلويزيون د تصويراو انتن تر منځ مانع موجود وي.

لکه څنګه چې د آسمايي غره ځينې وتلي برخې ددي سبب شوي چې د ټلويزيون دشعاعو مخه ونيسي، د غر په شاوخواکې پرتې ځينې کورنۍ نه شواى کولاى چې د ټلويزيون خپرونې ووينې نو له همدي کبله وه چې د نواباد، بريکوټ، جمال مينه، پروان مينه، د مامورينو کارته، خوشال مينه او د ځينو نورو برخو اوسيدونکو چې د اسمايي غره په لمنو کې ژوند کاوه نه شي کولي چې ټلويزيوني خپرونې وګوري خو دا تشه د ريلي په نصبولو سره کېداى شي چې له منځه لاړه شي.

د ټلويزيون پرسونل

د افغانستان په ټلويزيون کې پر ۱۳۶۰ لمريز کال ۴۲۵ تنو تخنيکي اونشراتي کارکوونکو په مختلفو برخو کې کار کاوه، چې ددې ډلې څخه يې ۲۰۶ تنو د نشراتو په برخه کې او ۲۱۹ تنو يې په تخنيکي څانګوکې دندې درلودې د نومورې کال د عادي لګښتونو بودجه (۱۹۴۲۶۰۰۰) افغانيو ته رسېده.

په وروستيو کالونو کې د ټلويزيون تشکيل دنويو عمومي مديريتونو او رياستونو په زياتوالي سره په ټهره بيا د افغانستان په مختلفو ولايتونو کې د ټلويزيون دخپرونو رياستونو په فعالولو سره داتشکيل ډېر زيات شو او عادي لګښت يې هم څو چنده زيات شو.

د ډاکتر نجيب الله په وخت کې تلويزيوني خپرونې

۱۳۶۵لمريز کال د ثور يا غوايي د مياشتې له ۱۴ څخه د مجاهدينو تر بري پورې دنورو مختلفو عواملو ترڅنګ چې ځا نګړي بحث ته اړتيا لري، خو کله چې د روسانو دمالي او ځاني تلفاتو اندازه په افغانستان کې زياته شوه او په دې پوه شول چې د ببرک کارمل په موجوديت کې نه شي کولای چې افغانستان اداره کړي، نو د ببرک کارمل پر ځای يې ډاکتر نجيب الله چې پخوا يې د خاد د رياست دنده پر غاړه درلوده، د ۱۳۶۵ لمريزکال د ثور د مياشتې پر ۱۴ نېټه د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند د مرکزي کميتې د عمومي منشي په توګه وټاکه.

پخواني شوروي اتحاداو دنجيب تر منځ موافقه وشوه چې شوروي اتحاد پوځونه بـه د افغانسـتان څخـه وځي او د وطـن ګونـد بـه پـه خپلـه د خپـل حاکميت څخه دفاع کوي.

ډاکټر نجيب الله په جنګ ځپلي افغانستان کې ملي روغـه جوړه اعـلان کړه. د مخالفينو څخه يې وغوښتل چې د افغانستان ستونزه د خبرو له لارې حل کړي. د مخالفينو سره يـې د مخامخ خبرو تيـاري وښوده. د لومړي ځل لپـاره د اشـرار کلمـې پر ځای د مرورو ورونو او ان تـردې چـې تلويزيـون پـه خپرونو کې د مجاهدو ورورنو په نامه هم ياد شول. د ثور د پرتمين انقلاب

او په خاصه توګه د ثورانقلاب د نوي پرمختيايي پړاو پر ځای د ثور رويداد بدلون خای ونيو.

لويه جرګه يې راوغوښته. لويې جرګې ډاکټر نجيب الله د افغانستان د جمهور رئيس په توګه وټاکه. ولسي جرګې او مشرانو جرګې ته يې انتخابات وکړل او دا دواړه جرګې يې له سره فعاله کړل.

فضل الحق خالقيار يې دصدراعظم په توګه وټاکه او له ولسي جرګې څخه يې داعتماد رايه واخيسته. ددې تر څنګ يې يو څو تنه غير ګوندي کسان په مختلفو وزارتو کې وزيران مقرر کړل.

په دولتي ادارو کې يې د افغانستان دخلق دموکراتيک ګوند لمړني سازمانونه وتړل.

په تلويزيوني خپرونوکې زيات بدلون راغی. هغه خپرونې چې د ملي روغې جوړې له روحيې مخالفې وې بيخې يې له منځه يوړې. په تلويزيون کې د ملي روغې جوړې په نوم يوه خپرونه هم رامنځته شوه.

ديني خپرونو لکه څنګه چې دمخه يادونه وشوه زياته پراختيا وموندله. د تلويزيوني خپزونو پيل چې پخوا په ملي سرود کېده د ډاکټر نجيب الله په وخت کې د خپرونو پيل د لومړي ځل لپاره د قرآن کريم په تلاوت وشو. همدارنګه د مانبنام او ماسختن اذانونه به هم له تلوېزيون څخه کېدل. د روژې په مبارکه مياشت کې به هر مانبنام د روژې ځانګړې خپرونه چې په هغې کې به د قران کريم تلاوت، موعظه، نعت، حمد او د روژې د مبارکې مياشتې په هکله به د ديني عالمانو ويناوې هم خپرېدې او د جمعې پر مانبنام به د هېواد د پياوړي قاري استاد برکت الله سليم په همت د ۱۵ دقيقو لپاره د تجويد درس له تلوېزيون څخه خپرېده. د دې تر څنګ د مذهبي ورځو لپاره به ځانګړې خپرونې جوړېدې او بيا له تلوېزيون څخه خپرېدې.

که څه هم د خپرونو د اوونۍ مهال ويش پخوانی وو، په خپرونوکې کموالی يا زياتوالی رانغی. خو دډاکتر نجيب الله په وخت کې خپرونې افغاني او مسلکي شوې. نور نو دروسانو او مارکسيزم لپاره تبليغات نه وو.

زمونږ ستر شمالي ګاونډي خپرونه چې د پخواني شوروي اتحاد لپاره په کې تبليغات کېدل له منځه لاړه.

د مجاهدينو تر بري وروسته د افغانستان د تلويزيون په خپرونو کې بنيادي بدلونونه

کله چې مجا هدينو په افغانستان کې سياسي قدرت ترلاسه کړ د تلويزيون په خپرونوکې بنسټيز بدلونونه رامنځ ته شول. د ببلګې په توګه د مجاهدينو تر بريالیتوب وروسته د تلويزيون کارکوونکي د ځينو محدويتونو سره مخامخ شول.

له بنځو څخه وغوښتل شول چې اسلامي حجا ب مراعات کړي او په دې دليل چې بنځې تر ناوخته په تلويزيون کې پاتې نه شي د دوی اضافه کاري يې له منځه يوړه، همدارنګه له بنځو او نارينه وو څخه وغوښتل شول چې د ستړي مشي پر وخت يوبل ته لاس ورنه کړي.

سربېره پردې د تلويزيون په خپرونوکې هم زيات بدلونونه رامنځ ته شول چې په تلويزيون کې د بنځو نطاقي منع شوه، خو وروسته له څه وخته بنځو ته بيا اجازه ورکړی شوه چې په دې شرط د تلويزيون څخه ظاهري شي چې چادر پر سر، اسلامي حجا ب مراعات او فيشن ونه کړي. په فلمونو او نمايشنامو کې هم همدا معمول په نظر کې و.

د موسيقۍ په برخه کې د هغو سندرو په خپرولو بنديز ولګيد، چې د شرابو نوم او يا د دوی له نظره غير اخلاقي الفاظ درلودل او د بنځينه هنرمندانو سندري په کلي ډول منع شوي. ان تر دي چې دکودکستان دماشومانو هغه تراني اوسندري چې ماشومو نجونو او هلکانو ويلي وي هم بندې شوې.

همدرانګه بهرنۍ سندرې لکه غربي، ايراني، ترکي سندرو خپرول هم منع شول.

د سينما په فلمونو کې هم پورتنۍ معمول مراعات کېده، نو ځکه د بهرنيو فلمونو خپرېدل هم له ستونزو سره مخامخ شول.

د مجاهدينو د دولت په وخت کې د تلويزيون يو شمېر خپرونې چې د اسلام له روحيې سره برابرې نه وې بيخي له منځه يوړې خو يو شمېر روزنيزه او ادبي خپرونې د پخوا په څېر خپرېدلې.

د تلويزيون په خپرونوکې لوی بدلون داسلامي معارف د رياست جوړول وو. د دې اداري په منځ ته راتلو سره د تولو اسلامي خپرونو جوړېل په دې رياست پورې اړه پيداکړه او مختلفې ديني خپرونې يې راديو او تلويزيون ته د خپرولو لپاره برابرولې.

خو د مجاهدينو په وخت کې چې مشري يې پروفيسر برهان الدين رباني پر غاړه درلوده په خپل منځي جګړو و نه يوازې داچې دکا بل ښار تالاا و ترغه کړ او ملي شتمنيو ته سخت زيان ورسېد په زرګونو خلکو خپل ژوند له لاسه ورکړ.

د دې په څنګ کې تلويزيون ته په مليونونو امريکايي ډالرو په ارزښت زيان واوښت د تلويزيون ستديوګانې نه يوازې دا چې د راکټونو تر حملې لاندې راغلې بلکې د تلويزيون اکثره تحويلخانې چور شوې.

د تلويزيون څخه که څه هم د پرودیو سرانو اوډايرکترانو فرار د پخوانې شوروي اتحاد له يرغل څخه پېل شوی وو، خو د مجاهدينو په خپل منځي جګړو کې کله چې د تلويزيون مسلکي کارکوونکو خپل او د کورنۍ ژوند په خطر کې ولوېد زيات شمېر يې پاکستان، ايران او يوشمېر يې اروپا، امريکا او ځينې يې په افغانستان کې دننه هغو سيمو ته لاړل چې هلته جګړه نه وه. تلويزيوني خپرونو خپل ماهيت له لاسه ورکړ او اکثره تلويزيوني خپرونې راډيويي بڼه درلوده خود مجاهدينو په وخت کې تولې هغه پخوانۍ خپرونې چې داسلامي ارزښتونوسره يې توپير نه درلود دپخوا په څېر خپرېدې. د افغانستان اسلامي دولت تلويزيوني خپرونې په اوونۍ کې په لاندې ډول وې:

شنبې یا د خالي مانبام

۵۷ - ۵ ارم تلویزیون ۰۰: ۳ دقیقې
۰۰ – ۶ مقد مه او تلاوت انانس ۰۰: ۲ دقیقې
۰۲ – ۶ تلاوت قران کریم له ترجمې سره ۰۰: ۱۰ دقیقې
۱۲ _ ۶ د خپرونې معرفي ۰۰: یوه دقیقه
۱۳ _ ۶ د کوچنیانو خپرونه ۰۰ -: ۲۵ دقیقې
۳۸ _ ۶ زمونږ نړۍ –(علمي خپرونه) ۰۰: ۲۰ دقیقې
۵۸ – ۶ اعلانات ۰۰: ۲ دقیقې
۰۰ – ۷ پښتو خبرونه ۰۰: ۲۰ دقیقې
۲۰ – ۷ سندره ۰۰: ۵ دقیقې
۲۵ -- ۷ تبصره ۰۰: ۵ دقیقې
۳۰ - ۷ د اردو خپرونه ۰۰: ۳۰ دقیقې
۰۰ - ۸ دري خبرونه او شعار ۰۰: ۲۰ دقیقې
۲۰: ۸ اهنګ ۰۰: دقیقې
۲۵ - ۸ مرکه یا راپورتاژ ۰۰: دقیقې
۳۵ - ۸ سیاسي نظام خپرونه – (اسلامي خپرونه) ۰۰: ۲۰ دقیقې
۵۵ – ۸ د تلویزیون دارشیف څخه ۰۰: ۳۰ دقیقې
۲۵ – ۹ د خلکو فرهنګ خپرونه) ادبي خپرونه) ۰۰: ۳۰دقیقې
لومړۍ هفته
مشعلداران هنر(ادبي خپرونه)
دویمه هفته
شهرستا ن سخن –(ادبي خپرونه) دریمه هفته
تلویزیوني مجله –(ادبي خپرونه) څلورمه هفته
۵۵ - ۹ دسینما خپرونه –(هنري) ۰۰ – ۲۵ دقیقې اوله اودریمه هفته
شما وتلویزیون خپرونه دویمه او څلورمه اوونۍ
۲۰ - ۱۰ دعا اود ختم انانس
۲۵ - ۱۰ دخپرونې پای

یکشنبې یا د اتوار مانبامنی خپرونه

۵۷ – ۵ ارم تلویزیون ۰۰: ۳ دقیقه
۰۰ ـــ ۶ مقدمه او دتلاوت انانس ۰۰: ۲ دقیقې
۰۲ ـ ۶ دقران کریم تلاوت د ترجمې سره ۰۰: ۱۰ دقیقې
۱۳ – ۶ دکوچنیانو خپرونه ۰۰: ۲۵ دقیقې
۳۸ ۶ دحدیث څخه درسونه (اسلامي خپرونه) ۰۰: ۲۰ دقیقې
۵۸ – ۶ اعلانات ۰۰دوه دقیقې
۰۰ – ۷ پښتو خبرونه اوشعار ۰۰: ۲۰ دقیقې
۲۰ – ۷ سندره ۰۰: ۵ دقیقې
۲۵ – ۷ دورځې تبصره ۰۰- ۵ دقیقې
۳۰ – ۷ ښاري راپور ۰۰: ۱۰ دقیقې
۴۰ – ۷ پولیس د ټولنې خدمتګار خپرونه ۰۰: ۲۰ دقیقې
اوله او دریمه اوونۍ
د نظامي اداري ګزارش ۰۰: ۱۵ دقیقې
دویمه او څلورمه اووني
۰۰ – ۸ دري خبرونه اوشعار ۰۰: ۲۰ دقیقې
۲۰ – ۸ آهنګ ۰۰: ۵ دقیقه
۲۵ – ۸ ذهني ازموینه -(تفریحي اومعلوماتي خپرونه) ۰۰: ۳۰ دقیقې

لومړۍ اوونۍ
د بیارغونې خپرونه دویمه اوونۍ
د ځوانانو کلوپ دریمه اوونۍ
د اسلامي انقلاب په اړینه کې څلورمه اوونۍ
۵۵ – ۸ تلویزیوني سریال ۰۰: ۶۰ دقیقې
۵۵ – ۹ دعا ۰۰: ۵ دقیقې
۰۰ – ۱۰ د پای انانس

د دوشنبې مانبامنۍ خپرونه

۵۷ – ۵ د تلويزيون ارم ۰۰: ۳ دقيقې
۰۰ – ۶ د قران کريم تلاوت او ترجمه ۰۰: ۱۰ دقيقې
۰۲ -- ۶ دخپروني معرفي ۰۰: ۱ دقيقه
۱۳ – ۶ دکوچنيانو خپرونه ۰۰: ۲۰ دقيقې
۳۳ – ۶ روغتيا خپرونه ۰۰: ۲۵ دقيقې

اوله دويمه او دريمه اوونۍ
د سرې مياشتې خپرونه څلورمه اوونۍ
۵۸ – ۶ اعلانات ۰۰: دوه دقيقې
۰۰ – ۷ پښتو خبرونه ۰۰: ۲۰ دقيقې
۲۰ – ۷ سندره ۰۰: ۵ دقيقې
۲۵ – ۷ تبصره ۰۰: ۵ دقيقې
۳۰ -- ۷ مرکه يا راپورتاژ ۰۰: ۱۰ دقيقې
۴۰ – ۷ د فقهي د درسونو خپرونه ۰۰: ۲۰ دقيقې
۰۰ – ۸ دري خبرونه ۰۰: ۲۰ دقيقې
۲۰ – ۸ سندره ۰۰: ۵ دقيقې
۲۵: ۸ نمايشنامه ۰۰: ۱۵ دقيقې
۴۰: ۸ هفت شهر هنر خپرونه –(ادبي خپرونه) ۰۰: ۲۰ دقيقې
اوله او دريمه اوونۍ
د کتا ب خپرونه –(ادبي خپرونه) دويمه او څلورمه اوونۍ
۰۰ – ۹ مستند فلم ۰۰: ۳۰ دقيقې
۳۰ – ۹ بهرني ورزشي خپرونه ۰۰: ۲۵ دقيقې
۵۵ – ۹ دعا ۰۰: ۵ دقيقې
د ختم انانس

د سه شنبې مانبامنۍ خپرونه

۵۷ – ۵ د تلویزیون ارم ۰۰ : ۳ دقیقې
۰۰ --- ۶ مقدمه اودقران کریم تلاوت انانس ۰۰ : دوه دقیقې
۰۲ – ۶ دقران کریم تلاوت او ترجمه ۰۰ : ۱۰ دقیقې
۱۲- ۶ دخپرونې معرفي ۰۰ : ۱ دقیقه
۱۳ – ۶ کارتوني فلم ۰۰ : ۱۷ دقیقې
۳۰ – ۶ راه زندګي خپرونه (تولنیزه خپرونه) ۰۰ : ۲۵ دقیقې
اوله او دویمه اوونۍ
د کرنې او مالدارۍ خپرونه دویمه او څلورمه اوونۍ
۵۵ – ۶ اعلانات ۰۰ : ۵ دقیقې
۰۰ – ۷ پښتو خبرونه ۰۰ : ۲۰ دقیقې
۲۰ – ۷ سندره ۰۰ : ۵ دقیقې
۲۵ – ۷ تبصره ۰۰ : ۵ دقیقې
۳۰ – ۷ مرکه یا راپورتاژ ۰۰ : ۱۰ دقیقې
۴۰ – ۷ تلویزیوني سفر خپرونه ۰۰ : ۲۰ دقیقې
۰۰ – ۸ دري خبرونه ۰۰ : ۲۰ دقیقې
۲۰ – ۸ سندره ۰۰ : ۵ دقیقې
۲۵ – ۸ دقران کریم څخه ددرسونو خپرونه ۰۰ : ۲۰ دقیقې
۴۵ – ۸ سریال ۰۰ : ۶۰ دقیقې
۴۵ – ۹ دعا ۰۰ : ۵ دقیقې
۵۰ – ۹ د ختم انانس

د چارشنبې مانبامنۍ خپرونه

۵۷ – ۵ د تلويزيون ارم ۰۰: ۳ دقيقې
۰۰ – ۶ مقدمه اودتلاوت انانس ۰۰: ۲ دقيقې
۰۲ – ۶ دقران کريم تلاوت اوترجمه ۰۰: ۱۰ دقيقې
۱۲ ۶ دخپروني معرفي ۰۰: ۱ دقيقيه
۱۳ – ۶ دکوچنيانو خپرونه ۰۰: ۲۰ دقيقې
۳۳ – ۶ زده کړه ټولوته خپرونه ۰۰: ۲۵ دقيقې
۵۸ – ۶ اعلانات ۰۰: ۲ دقيقې
۰۰ – ۷ پښتو خبرونه ۰۰: ۲۰ دقيقې
۲۰ – ۷ سندره ۰۰: ۵ دقيقې
۲۵ – ۷ تبصره ۰۰: ۵ دقيقې
۳۰ – ۷ دنظامي اداري راپور ۰۰: ۱۵ دقيقې
۴۵ – ۷ مستند علمي فلم ۰۰: ۱۵ دقيقې
۰۰ – ۸ دري خبرونه اوشعار ۰۰: ۲۰ دقيقې
۲۰ – ۸ سندره ۰۰: ۵ دقيقې
۲۵ – ۸ په اسلام کې اخلاقي او ټولنيز نظام ۰۰: ۲۰ دقيقې
۴۵ – ۸ دښځو او ټولنې خپرونه ۰۰: ۴۰ دقيقې
لومړی او دويمه اوونۍ
د ځوانانو نړۍ دويمه او څلورمه اوونۍ
۲۵ – ۹ کاروان حله ادبي خپرونه ۰۰: ۳۰ دقيقې
اوله اودويمه اوونۍ
سپېدې ها (ادبي خپرونه) ۰۰: ۳۰ دقيقې
دويمه او څلورمه اوونۍ
۵۵ – ۹ دعا ۰۰: ۵ دقيقې
د پای انانس

د پنجشنبې يا زيارت دورځې مانبامنۍ خپرونه

۵۷ – ۵ د تلويزيون ارم ۰۰: دري دقيقې
۰۰ – ۶ مقدمه او دقران کريم دتلاوت انانس ۰۰: دوه دقيقې
۰۲ – ۶ دقران کريم تلاوت د ترجمې سره ۰۰: لس دقيقې
۱۲ – ۶ دخپرونې معرفي ۰۰: يوه دقيقه
۱۳ – ۶ دلوبو خپرونه ۲۰ دقيقې
اوله او دريمه اوونۍ
رنګين کمان خپرونه - ادبي نمايشي دويمه او څلورمه اوونۍ
۵۸ – ۶ اعلانات ۰۰: ۲ دقيقې
۰۰ ۷ پښتو خبرونه اوشعار ۲۰ دقيقې
۲۰ – ۷ سندره ۰۰: ۵ دقيقې
۲۵ –۷ تبصره ۰۰: ۵ دقيقې
۳۰ – ۷ دتجويد څخه درسونه (ديني خپرونه) ۰۰: ۳۰ دقيقې
۰۰ – ۸ دري خبرونه او شعار ۰۰: ۲۰ دقيقې
۲۰ – ۸ سندره ۰۰ ۵ دقيقې
۲۵ – ۸ تبصره ۰۰: ۵ دقيقې
۳۰ – ۸ سينمايي فلم ۱۲۰:۰۰ دقيقې
۲۵ – ۱۰ دعا ۰۰: ۵ دقيقې
د ختم انانس

د جمعې د ورځې سهارنۍ خپرونه

۵۷ – ۸ د تلویزیون ارم	۰۰: درې دقیقې
۰۰ – ۹ مقدمه او د قران کریم د تلاوت انا نس	۰۰: دوه دقیقې
۰۲ – ۹ د قران کریم تلاوت او ترجمه	۰۰: ۱۰ دقیقې
۱۲ ۹ د خپرونې معرفي	۰۰: یو دقیقه
۳۳ – ۹ د حیواناتو نړۍ	۰۰: ۲۷ دقیقې
۰۰ – ۱۰ خبرونه	۰۰: ۵ دقیقې
۰۵ – ۱۰ سندره	۰۰: ۵ دقیقې
۱۵ – ۱۱ بهرنۍ ورزشي خپرونه	۰۰: ۳۰ دقیقې
۴۵ – ۱۱ سندره	۰۰: ۵ دقیقې
۵۰ – ۱۱ نمایشنامه	۰۰: ۱۵ دقیقې
۱۰ – ۱۲ سندره	۰۰: ۵ دقیقې
۱۵ – ۱۲ بسوې نور (دیني خپرونه)	۰۰: ۱۵ دقیقې
۳۰ – ۱۲ د جمعې د لمانځه اذان	۰۰: ۴ دقیقې

ختم

جمعې مانبامنۍ خپرونه

۵۷ – ۵ د تلویزیون ارم ۰۰: دري دقیقې
۰۰ – ۶ مقدمه او دقران کریم دتلاوت انانس ۰۰: دوه دقیقې
۰۲ – ۶ دقران کریم تلاوت اوترجمه ۰۰: لس دقیقې
۱۲ – ۶ دخپرونې معرفي ۰۰: یوه دقیقه
۱۳ – ۶ دکوچنیانو خپرونه ۰۰: ۲۰ دقیقې
۳۳ – ۶ سرکس یا کمیدي فلم ۰۰: ۲۵ دقیقې
۵۸ – ۶ اعلانات ۰۰: دوه دقیقې
۰۰ – ۷ پښتو خبرونه اوشعار ۱۵ دقیقې
۱۵ –۷ سندره ۰۰: ۵ دقیقې
۲۰ – ۷ تبصره ۰۰: ۵ دقیقې
۲۵ – ۷ داوونۍ مهمو پیښو ته یوه کتنه ۰۰: ۱۵ دقیقې
۴۰ – ۷ نواي کهسار یا محلي سندري ۰۰: ۲۰ دقیقې
۰۰ – ۸ دري خبرونه اوشعار ۰۰: ۵ دقیقې
۱۵ – ۸ سندره ۰۰: ۵ دقیقې
۲۰ – ۸ سینمایي فلم ۰۰: ۱۲۰ دقیقې
۱۰ – ۱۰ دعا ۰۰: یوه دقیقه
او ختم

که څه هم د تلويزيون خپرونو د پخوا په څير د اوونۍ مهال ويش درلود او هڅه کېده چې خپرونې په خپل وخت خپرې شي خو د تنظيمونو تر منځ د خپل منځي جګړو او بېړنيو حالاتو له کبله پرودیوسرانو او دايرکترانو نه شو کولای چې خپرونې په خپل وخت تهيه او خپريدو ته يې تياري کړي.

د ولايتو تلويزيونونه لکه څنګه چې پخوا وويل شول ځينې يې چور شول او هغه چې پاتې شول د مختلفو قوماندانانو په لاس کې پرېوتل او هغه ډول چې يې خوښه وه په خپل سر خپرونې يې کولې او له مرکز سره يې کوم اړيکي نه درلودل، خو کله چې د طالبانو اسلامي غورځنګ د خپلو فتوحاتو په لړ کې پر ۱۳۷۵ لمريز کال د تلې (ميزان) په پنځمه نېټه کابل ونيو، پرته له دې چې تخنيکي وسايلو او ارشيف ته زيان ورسوي، ورسره جوخت يې د تلويزيون خپرونې منع او د تلويزيون ستديوګانې يې کولپ کړې.